د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون

د علمي څیړنو معاونیت

د علمي څیړنو آمریت

# د څیړنو پایلې

# Research Results

ترتیب کوونکی: د علمي څیړنو آمریت

کال: ۱۴۴۶ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون نوښت

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدالله وکفی والصلاة والسلام علی عباده الذين اصطفی، اما بعد!

نړۍ د يو کور حيثيت لري، د هرې برخې ســتونزې او ګټې يې ګډې خواوې لري او د خلکو فرهنګي ګډې خواوې انساني غوښتنې، اړتياوې، ستونزې او داسې نور مسائل سره اړيکې لري. له همدې امله نړۍ کوښښ کوي چې په داسې مسايلو باندې څېړنې تر سره کړي چې ګټه يې د نړۍ انسانانو ته ورسيږي، د نړۍ غوښتنې پوره کړي او فرهنګي، انساني، ټولنيز او هغه مسايل چې ګډې خواوې لري، تر بحث او څېړنې لاندې ونيسي.

نړيوال ژورنالونه هغو څېړنو او مقالو ته ډير ارزښـــت ورکوي چې علمي، فرهنګي او ټولنيز ارزښت ولري، او د خپراوي لپاره يې په برېښنايي توګه خلکو ته د رسولو اړتيا ليدل کيږي، نن سبا په فزيکي توګه کتاب هر هيواد او کور ته په اسانۍ سره رسيدلای نه شي، خو په برېښنايي توګه په څو ثانيو کې علمي څېړنې او کتاب د هر کور غړي ته رسيدلی شي.

په برېښـــنايي توګه د مقالو، څېړنو او اثارو خپرولو ګټه دا ده چې کلونه کلونه‌به دغه ليکنې خوندي وي او هر وخت به په اســانۍ سره ترې ګټه اخيســتل کيدای شي. په افغانســتان کې د ديرشـمو، څلويښتمو، پنځوسـمو او شپېتمو کلونو ډيرې مقالې او اثار په فزيکي توګه تر لاســه کولای نه شــو، خلک نه شي کولای چې يادو څېړنو ته لاسرســـی ولري، خو که چيرې دغه څېړنې په برېښنايي توګه خپرې شوې وای، نو نن به دغه ستونزه نه وه.

په وروســتيو کلونو کې د افغانســتان د پوهنتون اســتادانو په بېلابېلو نړيوالو ژورنالونو کې خپلې مقالې اوڅېړنې خپرې کړې دي او لـه نيکه مرغه د افغانســـتان پوهنتونونه نړيوال برېښـــنايي ژورنـالونـه لري، چې د خپلو علمي کـادرونو مقـالې پکې خپروي. زموږ د فرهنـګ، تـاريخ، هويت، دين، مذهب، پرمختګ، ټولنې او ادبياتو سره د اشـــنايي لپاره بايد نوې څېړنې ترسره شي او دغه څيړنې په برېښنايي توګه د نړۍ له خلکو سره شريکې شي.

د تیرو څو کلونو په جریان کې د افغانستان څېړونکي، لیکوالان او د پوهنتون استادان خپلې مقالې په نړیوالو ژورنالونو کې خپروي له دغو پوهنتونونو څخه یو هم د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون دی چې استادانو یې په سلګونو مقالې خپرې کړې دي، د خپرو شوو مقالو څخه یې هغه مقالې چې پایلې یې په هیواد کې دننه د تطبیق وړ دي، د یو کتاب په بڼه تدوین او لنډیزونه یې له لنډو سپارښتنو سره په فزیکي توګه چاپیږي. دغه مقالې په څلورو برخو باندې ویشل شوې دي او دا دی د یاد پوهنتون د علمي څېړنو معاونیت په نوښت او ابتکار له بېلابېلو ژورنالو څخه تر لاسه شوې مقالې ، د چاپ پر ګاڼه سمبال شوې.

د لوړو زده کړو وزارت مشرتابه ددې کار قدرداني کوي او له نورو پوهنتونونو څخه د ورته کړنو غوښتنه کوي او په پای کې د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون مشرتابه، د مقالو لیکوالانو او راټولوونکو ته مبارکي وایي.

**دوکتور لطف الله خیر خواه**

د لوړو زده کړو وزارت د علمي چارو معین

# د نړیوالو مقالو د خپراوي ارزښت

الحمد لله الذی بنعمته تتم الصالحات، اما بعد!

موږ هغه وخت نړیوال لیکوال پیداکولای شو چې په نړیوالو معیارونو برابرې څیړنې او پنځونې ترسره کړي. دغه څیړنې او پنځونې باید د خلکو تر ذهنونو او کار ځایونو پورې ورسوو، دا هغه وخت کېدلای شي چې په بریښنایي توګه خپلې علمي ـ څېړنیزې لیکنې خوندي کړو او د خپلو لیکنو لپاره نړیوال بازار پیداکړو.

په نړیوالو مقالو کې د تاریخ پوهاوی، فرهنګ پیژندنه، ټولنیز ارزښتونه او سیاسي پرمختګونه د نړۍ خلکو ته د هغوی په ژبه معرفي کولای شو. په اوس وخت کې د نړۍ ژبې د یونسکو ژبې دي، چې په ځانګړې توګه د انګلیسي ـ عربي او داسې نورو ژبو یادونه کولای شو. نړیوالې مقالې په خپلو رسمي ژبو (پښتو او دری) باندې هم خپرولای شو. خو په نړیوالو ژبو یې ارزښت دا دی چې ډېر لوستونکي به ولري او ډیر خلک به زموږ د ټولنې له فرهنګ، تاریخ، ادبیاتو، ساینسي پرمختګونو او له داسې نورو خواوو سره اشنا شي. زموږ پیژندګلوي د نړیوالو مقالو په وسیله ترسره کېدای شي او د همدغو مقالو په وسله د نړۍ خلک زموږ له فرهنګ سره اشنا کېدای شي. موږ ارزښتمن او پخوانی تاریخ لرو، ددې تاریخ ساتل او خلک پرې خبرول د نړیوالو مقالو په وسیله ترسره کیدای شي او په ټولنیز ډول د نړۍ خلکو ته خپل شناخت او پیژندنه د علمي کارونو په وسیله ښودلی شو، چې ښه وسیله یې په برښنایي توګه د علمي کارونو ترسره کول دي.

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د علمي څیړنو معاونیت د خپلو استادانو هغه څېړنیزې مقالې ټولې کړې دي چې په بیلا بیلو نړیوالو او ملي ژورنالونو کې خپرې شوې دي، دغه مقالې په بریښنایي توګه شته. خو په فزیکي توګه یې هم د شتون اړتیا لیدل کیده. ځکه چې له فزیکي کتاب څخه ډیره ښه استفاده کیږي او هر کال په زرګونو کتابونه د همدې لپاره چاپیږي چې د مطالعې لپاره یې لوستونکی له ځان سره هر چیرته یوسي، د کتاب مطالعه د انسان پر ذهن فشار نه راوړي او ښه زده کړه ترې کیږي.

د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست کوښښ کوي چې هر کال د هر پوهنتون د استادانو نړیوالو مقالو شمېر څرګند کړي چې د تېر کال په نسبت یې په نوي کال کې څومره مقالې خپرې کړې دي. په مقالو کې یې زیاتوالی راغلی دی او که له تیر کال څخه یې لږې مقالې خپرې کړې دي؟ نو له همدې امله یې په مکتوبي توګه له پوهنتونونو څخه غوښتنه کړې ده چې په نړیوال ژورنال کې د خپل هر کال مقالې معلومې کړي او یاد ریاست ته یې راپور ورکړي.

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون داسې نوښت وکړ چې د خپلو علمي کادر غړو د هغو خپرو شوو څېړنیزو مقالو څخه چې پایلې یې په هیواد او اوسني شرایطو کې د تطبیق وړ دي، په یوه ټولګه کې د هغوی لنډیزونه او لنډې سپارښتنې راټولې او په فزیکي توګه چاپ کړې دي.

زه د دې کار مبارکي د اناستو پوهنتون مشرتابه او استادانو ته وړاندې کوم، په ځانګړې توګه هغو استادانو ته مبارکي ورکوم چې په دغه ټولګه کې یې مقالې خپرې شوې دي. په راتلونکې کې له دغو استادانو هیله کوم چې خپلو علمي کارونو ته لا ډېره پاملرنه وکړي او په ډېر شوق او ذوق سره یې ترسره کړي.

په درنښت

**دوکتور حمیدالله مزمل**

د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست رئیس

## د پوهنتون د رئیس پیغام

الحمدالله رب العالمین والصلوه والسلام علی رسوله محمد وآله واصحاب اجمعین

وبعد: بسم الله الرحمن الرحیم: فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ إِلَى طَعَامِهِ أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاءَ صَبًّا ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا فَأَنْبَتْنَا فِيهَا حَبًّا وَعِنَبًا وَقَضْبًا وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا وَحَدَائِقَ غُلْبًا وَفَاكِهَةً وَأَبًّا مَتَاعًا لَكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ ط.

د لوی الله جل جلاله د عظیمو قدرتونو څخه یو هم د زراعت او مالدارۍ صنعت دی چې د انسانانو د رفاه سکون او ژوندي ساتلو لپاره یې ایجاد کړی دی، هغه په ډیر عجیبه شکل سره د بحر څخه د لمر په تودوخه بخار پیدا او بیا د الهي قدرت په سلسله کې وریځ ځنې جوړوي، د وریځي څخه د باران واورې، ږلی اورېدل او بیا د هغه اوربښتي اوبو څخه مځکه خړوبیدل او په مځکه کې د تخمونو شنه کیدل، مځکه ورته چاودیدل او بیا په تدریج سره نمو کول او په پایله کې یې انسانانو او د هغوی د حیواناتو لپاره غذا او د ضرورت وړ مېوه جات او فواکه رامنځته کول او بیا د حیواناتو څخه د ډول ډول مشروباتو، روغنیاتو، لحمیاتو او د حمل او نقل فوائد حاصلېدل د الله تعالی جل جلاله د لویو قدرتونو روښانه بیلګې دي.

په همدې توګه د خدای تعالی جل جلاله د قدرتونو له علایمو څخه په مځکه کې د اوبو د ذخیره کولو ستورونه رامنځته کول دي، چې اورېدلې اوبه د انسانانو د فائدې لپاره ورته په ځمکه کې ذخیره او تصفیه کوي او د ضرورت په وخت کې د هغه مځکې لاندې اوبو څخه د زراعت او مالدارۍ لپاره استفاده کیږي.

د نقل او عقل په مشاهدې سره ثابته ده چې ځینې آفات او امراض سته چې پورته ذکر سوي نعمتونه په مختلفو اوقاتو کې ځنې متضرره کیږي، یا بلکل د فائدې څخه وځي او یا یې فائده کمیږي، خو متعال رب جل جلاله د خپلو احساناتو په سلسله کې د پیدا سوو امراضو او آفاتو د معلومولو او تداوي کولو لپاره با کماله انسانان پیدا کړي دي او په یاد کار کې مهارت او پوهه ورکول سوې ده. په همدې توګه د حاصلاتو د تکثیر لپاره ځینې سرې او کودونه سته چې د سم او ناسم استعمال څخه یې د ځان پوهول لازمي دي، نو بناءً د افغانستان د کرنیزو علومو او

تکنالوژي ملي پوهنتون محترمو استادانو د خپل مسؤلیت او پر خپل اولس د شفقت لپاره د تحقیقاتو او څېړنو دغه مجموعه ترتیب کړه چې تر ډیره حده پورې په زراعت او مالدارۍ پورې تړلې مشکلات ورباندې حل کیږي، خدمت یې د ستایلو وړ دی.

الله تعالی د وکړي چې د اولس لپاره د پوهې، سوکالۍ او پرمختګ سبب وګرځي.

**الحاج مولوي سید محمد داؤد اغا الهاشمي**

د اناستهو پوهنتون رئیس

# د افغانستان تر اوسنیو شرایطو لاندې د کرهنې او مالدارۍ په برخه کې علمي څېړنو ته اړتیا

علمي څېړنې په نړۍ کې د انسانانو د بنسټیزو اړتیاوو څخه شمیرل کیږي چې په مټ یې د هرې ټولنې پرمخ پرتې ستونزې هواریږي او په نتیجه کې د انسانانو د پرمختګ او هوسایني سبب ګرځي. د نړۍ هغه هیوادونه چې څېړنو ته پاملرنه کوي او پدې برخه کې ډیره پانګونه ترسره کوي، هغوی نن د پیاوړي اقتصاد، پرمختللې ټکنالوژۍ، پیاړوي نظام، پایداره کرهنې او مالدارۍ او د ژوند د ټولو آسانتیاوو څخه برخمن ګڼل کیږي. برعکس، هغه هیوادونه چې څېړنو ته پاملرنه نه کوي، هغوی د ورسته پاتې هیوادونو په ډله کې شمیرل کیږي او په ورځنیو چارو کې د ډول ډول ستونزو سره لاس او ګریوان دي. په افغانستان کې کرهنه او مالداري یو له اساسي سکتورونو څخه شمیرل کیږي چې د ملي اقتصاد په پیاوړتیا، د غذا په تأمین، د فقر او بېکارۍ په راکمولو کې رغنده رول ادا کوي. که څه هم زموږ د هیواد خاوره، اوبه او هوا د کرهنې او مالدارۍ لپاره ډیر په زړه پورې ګڼل کیږي، ولې بیا هم زموږ کروندګر او مالداران د نورې نړۍ په پرتله په ډیره ټیټه کچه حاصلات ترلاسه کوي. دا یوه څرګنده خبره ده چې په یوه ټولنه کې د موجوده ستونزو د حل په موخه علمي څېړنې ترسره کیږي او ترڅنګ یې د انسانانو په علم او پوهه کې زیاتوالی رامنځته کیږي. د نورې نړۍ په پرتله په افغانستان کې علمي څېړنې په ډیره کمه کچه ترسره سوې دي، چې د همدې کبله مو وګړي نه یوازې د کرهنې او مالدارۍ په برخه کې د ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي، بلکي د نوو څېړنو د ترسره کولو لپاره علمي منابع هم په ډیره کمه اندازه شتون لري چې دا پخپل ذات کې د څېړنو په وړاندې یوه جدي ستونزه ګڼل کیږي. د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د کرهنې او مالدارۍ په برخه کې هغه عمده ستونزې چې د څېړنو په مټ باید ورته حل لارې ولټول سي عبارت دي له: د اقلیمي تغیراتو د ګوابنونو راکمول، د میکانیزه کرهنې رواجول، د کیمیاوي سرو، نباتي امراضو او آفاتونو تنظیم او اداره کول، د وچکالۍ سره په مبارزه کې د آبیارۍ د نوو سیستمونو معرفي کول، د اصلاح سوو تخمونو رامنځته کول، د حیواني نسلونو اصلاح کول، د حیواناتو لپاره د بیلانس لرونکې غذا جوړول، د حیواناتو په فارمونو کې د حفظ الصحې مراعتول، د حیواناتو د ساري ناروغیو کنترول او واکسین جوړونه او

د حيواناني درملو جوړول او تطبيق دي. که چيرې د کرهنې او مالدارۍ په ذکر سوو برخو کې علمي څېړنې په دقيقه توګه ترسره کړل سي، پاليلې او وړانديزونه يې د پلې کيدو په موخه د پاليسي جوړوونکو، کروندګرو او مالدارنو په واک کې ورکړل سي نو ليرې به نه وي چې ګران هيواد به مو د کرهنې او مالدراۍ له اړخه په ځان بسيا، ملي اقتصاد به مو پياوړی، غدايي امنيت او مصؤنيت به مو خوندي، د فقر او بيکارۍ کچه به مو ټيټه، نظام به مو پياوړی او هيواد به مو د پرمختللو هيوادونو په کتار کې ودريږي. د پورتنيو کړنو د پلي کولو په موخه اړتيا ليدل کيږي چې د افغانستان اوسنی حاکم نظام او هغه خارجي موسيسات چې په افغانستان کې د کرهنې او مالدراۍ په برخه فعاليت ترسره کوي څېړنو ته د ودې او پرمختګ ورکولو په موخه بايد د هيواد په هره برخه کې علمي ـ څېړنيز مرکزونه زيات کړي او پدې برخه کې زياته پانګونه ترسره کړي ترڅو د همدې لارې مو پرمخ پرتې ستونزې حل کړل سي او د هيواد ټول وګړي مو د يوه سوکاله او آرام ژوند څخه برخمن سي.

په ډېر درنښت

**دوکتور شريف الله شريفي**

اناسټو پوهنتون د علمي څېړنو مرستيال

# د څېړنو لړليک

## لومړی فصل

### د نباتي حاصلاتو برخه


| شماره | د څېړنې عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د افغانستان تر نیمه وچو اقلیمي شرایطو لاندې په وقفه اي ډول د نایتروجني سرې استعمال د سویابینو وده، حاصل او اقتصادي ارزښت زیات کړی دی | ۱ |
| ۲ | د شنو ماشو پر وده او حاصل باندې د نایتروجن او فاسفورس اغیزې | ۳ |
| ۳ | د وربشو په وده، تولید او د هرزه بوټو په کنترول باندې د نایتروجن او هرزه بوټو د کنترول مختلفو طریقو اغیزې | ۴ |
| ۴ | په کندهار ولایت کښې د پنبې نبات د دریو ورایټیو د حاصلاتو او عایداتو پرتله | ۵ |
| ۵ | په کندهار ولایت کښې د مې د دوو ورایټیو پر حاصل باندي د پوتاشیم د بیلا بیلو اندازو اغېزې | ۷ |
| ۶ | د افغانستان د نیمروز ولایت د غلو دانو او حبوباتو پر تولید د کمال خان بند اغېزې | ۸ |
| ۷ | د جوارو پر حاصلاتو او عایداتو باندې د نباتاتو تر منځ فاصلې او نایتروجن د استعمال اغېزې | ۱۰ |
| ۸ | د غنمو پر وده او حاصل باندې د اوبولګونې د طریقو اغېزې | ۱۱ |
| ۹ | د ماش (مې) پر وده او حاصل باندي د کرلو د طریقو اغېزې | ۱۲ |
| ۱۰ | د ماشو پر وده او حاصل د هرزه وښو وژونکو د استعمال اغېزې | ۱۴ |
| ۱۱ | د غنمو پر وده او حاصلاتو باندې د فاسفورسي سرې د مختلفو اندازو اغېزې | ۱۶ |
| ۱۲ | د جوارو د عایداتو او لګښتونو پر اساس د نایتروجني او فاسفورسي سرو اندازې ټاکل | ۱۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳ | د کندهار په نیمه وچو شرایطو کې د شنه ماشو(ویګنا رادیتا) په تولید باندې د فاسفورس او پوتاشیم د استعمال اغیزې | ۱۸ |
| ۱۴ | د NPK سرې د استعمال کچه او په کندهار کې یې د غنمو پر وده او حاصل اغیزې | ۱۹ |
| ۱۵ | د سپیني لوبیا په وده، حاصل او عایداتو باندی د نایتروجن او فاسفورس د بیلا بېلو اندازو د استعمال اغیزې معلومول | ۲۱ |
| ۱۶ | د ماش (Vigna radiata L.) NM-94 ورایټي پر وده او حاصل باندې د نایتروجن د بېلا بیلو اندازو د استعمال اغېزې | ۲۳ |
| ۱۷ | د ماش (Vigna radiata L.) NM-94 ورایټي پر وده او حاصل باندې د پوتاشیم د بیلابیلو اندازو داستعمال اغېزې | ۲۴ |
| ۱۸ | د جوارو پر حاصل باندې د نایتروجن، فاسفورس او عضوي FYM سرو اغېزې | ۲۵ |
| ۱۹ | د جوارو پر وده باندې د نایتروجن، فاسفورس او عضوي FYM سرو اغېزې | ۲۷ |
| ۲۰ | د کرنیزو نباتاتو د حاصلخیزی لپاره د خاورې نمونه اخیستل | ۲۸ |
| ۲۱ | اثرات کاربن دای اکساید افزوده شده (Elevated CO2) بر نموی نهالهای شالی | ۳۰ |
| ۲۲ | اثرات هیومیک اسید بر انکشاف نموی گندم | ۳۱ |
| ۲۳ | د ارزګان په اګرو-ایکالوژیکي شرایطو کې د جوارو پر وده او حاصلاتو باندې د فاسفورس تاثیرات | ۳۲ |
| ۲۴ | په بدخشان ولایت کې د جوارو په وده او تولید باندې د فاسفورس د مختلفو اندازو اغیزې | ۳۳ |
| ۲۵ | د پلیو (Arachis hypgaea L) په دوه ورایټیو باندې د فاسفورس د مختلفو اندازو اغیزې | ۳۴ |
| ۲۶ | د لوبیا (Phsasoulus vulgaris L) په وده او حاصل باندې د فاسفورس او تخم د مختلفو اندازو تاثیرات | ۳۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۷ | په کندهار کې د رومي بانجانو د کيلاش ورايټي پر وده او حاصل د نايتروجن او د بوټو تر منځ د فاصلو اغېزې | ۳۶ |
| ۲۸ | د شنوخونو په بادرنگو کې ريښې غوټه کوونکو نيماتودونه (Meloidogyne spp.): پېښېدنه، مخنيوی او په افغانستان کې د دوی په واسطه رامنځ ته کېدونکی زيان | ۳۸ |
| ۲۹ | د شنوخونو په بادرنگو کې د ريښې غوټه کوونکو نيماتودونو (Meloidogyne spp.) مخنيوی. | ۳۹ |
| ۳۰ | د کيمياوي حشـره وژونکو په وسيله د روميانو مېوې د سوري کوونکې چينجي (Helicoverpa armigera) مخنيوی | ۴۱ |
| ۳۱ | د هوږي پر وده او حاصل باندې د حيواني سرې او NPK اغيزې | ۴۳ |
| ۳۲ | د ماروکدو (Cucurbita pepo. L) د سپيرغوږي ناروغۍ په مخنيوي کې د محلي موادو (غوا تازه شيدې، نيم ونې د پاڼو شيره او لمرگلي غوړي) او فنگس وژونکو (فنکونازول) د اغيزو پرتله کول. | ۴۴ |


## دوهم فصل

## د خاورې او اوبو برخه


| شماره | د څېړنو عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۳۳ | د خاورې په قلويت او مالگينتوب باندې د حيوانې سرې او جپسم (گچ) اغيزې | ۴۶ |
| ۳۴ | د خاورې پر فزيکي، بيولوژيکي او کيمياوي ځانگړنو باندې د اقليمي شرايطو د بدلون اغيزې | ۴۷ |
| ۳۵ | په کندهار ولايت کې د خړوبونې په موخه د سيلابي اوبو د کيفيت ارزونه | ۴۹ |
| ۳۶ | مالگينې خاورې اصلاح کول | ۵۱ |

## دریم فصل

## د حیواني او وترنري علومو برخه


| شماره | د څېړنو عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۳۷ | د لوبیا د څلورو ډولونو د عصارې په واسطه د تولید شویو ماستو د فزیکي- کیمیاوي ځانګړتیاوو ارزونه | ۵۳ |
| ۳۸ | په ماډل هضمي سیستم کې د لوبیا د څلورو ډولونو په واسطه د تولید شویو ماستو د انتي اوکسیدانت او د فعالیت د ACE –Inhibitory مطالعه | ۵۴ |
| ۳۹ | د Response Surface Methodology په کار وړلو سره د لوبیا د څلورو ډولونو د عصارې په واسطه د ماستو تولید: لومړنۍ څېړنه | ۵۵ |
| ۴۰ | د کندهار ولایت غوښینو چرګانو تجارتي فارمونو کې د انتي بیوتیکو د استعمال مطالعه | ۵۷ |
| ۴۱ | په وطني نسل وزو د شیدو ورکولو مختلفو دورو کې د وینې د کلسیم او ګلوکوز اندازه | ۵۸ |
| ۴۲ | په کندهار ولایت کې په شیدو ورکوونکو غواګانو باندې د مصنوعي القاح د وضعیت مطالعه | ٦۰ |


## څلورم فصل

## د کرنیزو محصولاتو اقتصادي برخه


| شماره | د څېړنو عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۴۳ | د کرنیزو محصولاتو پر تولید باندې د شنو خونو اقتصادي اغېزې | ٦۲ |
| ۴۴ | په کندهار کې د رومي بادنجانو بازارموندنه | ٦۴ |
| ۴۵ | په کندهار ولایت کې د انځرو د درجه بندۍ سوداګریزې اغیزې | ٦٦ |
| ۴٦ | د بادامو کوچنیو کروندګرو باندې د عضوي سرې په منلو کې د عضوي سرې اړوند د پوهې، چلند او کارولو تر منځ اړیکه | ۷۰ |

# پیلیزه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي يَرْزُقُ وَيُرَبِّي، وَيُنَزِّلُ الغَيْثَ وَيُحْيِي الأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا، وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ، وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ. اما بعد:

کرنه او مالداري د ملي اقتصاد په پیاوړتیا سره د یو پر ځان بسیا او باثباته هیواد په جوړښت کې اساسي رول لري، چې په پیاوړتیا سره یې یو ملت په نورو باندې له اتقاء څخه د ژغورل کیږي. داچې په نړۍ او افغانستان کې د نفوسو وده ډیره چټکه او منابع محدودې دي، په خاصه توګه کرنیزه ځمکه او اوبه چې د مختلفو عواملو په اساس ورځ تر بلې د کمښت او تخریب سره مخ دي، نو په داسې حال کې اړینه ده چې موجوده نسلونو ته د سالمې او کافي غذا برابرولو تر څنګ د منابعو له تخریب څخه هم مخنیوی وشي.

لازمه ده چې له في واحد ځمکې، نبات او حیوان څخه اعظمي حاصلات ترلاسه شي، چې د همدې موخې لپاره د دقیقو څیړنو ترسره کولو ته جدي اړتیا شته، تر څو د کرنیزو او حیواني محصولاتو د کیفیت ساتلو سره سره د هغوی د زیاتوالي لارې چارې ولټول شي او په دې برخه کې نوښتونه رامنځ ته شي.

د څیړنو د ترسره کولو تر څنګ د هغه نشرول، ټولنې ته رسول او تطبیق یو بل مهم پړاو دی چې باید ترسره شي او په همدې موخه د لنډیزونو دا کتاب چې په څلورو فصلونو کې (نباتي حاصلات، خاوره او اوبه، حیواني او وترنري علوم او د کرنیزو محصولاتو اقتصاد) برخو باندې مشتمل دی او په کتاب کې ټولې ۴۶ هغه مقالې چې د څیړنو پایلې یې په هیواد کې د تطبیق وړ دي په لنډ ډول د هغه لنډیزونه او سپارښتنې ځای پر ځای شوې دي ترڅو بزګران او د مسلک خاوندان ور څخه ګټه پورته کړي.

د لنډیزونو ددې کتاب په ترتیب کې د اناستو پوهنتون له قدرمنو استادانو څخه ډیره مننه کوو چې د خپلو څیړنو پایلې یې په ملي ژبه ترتیب او زموږ سره شریکې کړې دي. همدارنګه د پوهنتون له قدرمن رئیس ښاغلي الحاج مولوي محمد داود اغا هاشمي او د علمي څیړنو له

محترم مرستیال دوکتور شریف الله شریفي صاحب څخه د زړه له تله مننه وی یو چې ددې کتاب په ترتیب او عملي څېړنو ترسره کولو کې یې خپلې نیکې مشورې او مرستې ندي سپمولې او تل یې زموږ غوښتنو ته په ورین تندي ځواب ویلی دی. د هیریدلو نده چې د افغانستان د اسلامي امارت له بیا حاکم کېدو څخه وروسته د لوړو زده کړو محترم وزارت په چوکاټ کې د همدې وزات علمي معین قدرمن دوکتور لطف الله خیرخواه او ورسره د څېړنو، تألیف او ژباړې محترم رئیس قدرمن دوکتور حمیدالله مزمل د نورو ټولو برخو سره سره د علمي څېړنو په ترسره کېدو او په دې برخه کې د آسانتیاوو په برابرولو کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي، د همدوی د نیکو مشورو او هڅونو په برکت سره موږ هم په دې وتوانیدلو چې زموږ د زیارکښه استادانو د ترسره شوو څېړنو خلاصه د یو کتاب په شکل ټولنې ته د هیواد د پر ځان بسیاینې او ښیرازتیا لپاره وړاندې کړو، له دوی څخه د منني تر څنګ دا کتاب د دوی په نوم ډالۍ کوو او له الله تعالی جل جلاله څخه ورته په دواړو دارینو کې د باسعادته ژوند غوښتونکي یو.

په درنښت

**د علمي څېړنو آمریت**

# لومړی فصل

# د نباتي حاصلاتو برخه

## د افغانستان تر نیمه وچو اقلیمي شرایطو لاندې په وقفه اي ډول د نایتروجني سرې استعمال د سویابینو وده، حاصل او اقتصادي ارزښت زیات کړی دی

څېړونکی: پوهنیار دوکتور شریف الله شریفي

د څېړونکي اېمېل ادرس: nsharifullah@gmail.com

**لنډیز**

د دې څېړنې هدف د افغانستان تر نیمه وچو اقلیمي شرایطو لاندې د سویابینو نبات پر وده، حاصل او د کروندګرو پر اقتصادي وضیعت باندې  په وقفه اي شکل د 30 کیلوګرامه نایتروجن في هکتار د اغیزو څېړل دي. پدې څېړنه کې 30 کیلو ګرامه نایتروجن في هکتار د کنټرول پلاټ په نظر کې نیولو سره په څلورو وقفو کښې و نوموړي نبات ته ورکړل سوی دی. نوموړې وقفې عبارت دي له ($S_1$): ټول 30 کیلوګرامه نایتروجن في هکتار د کښت په وخت کې; ($S_2$): 50 سلنه د کښت کولو په وخت کې او 50 سلنه لس ورځې ورسته تر کښت ; ($S_3$): 33 سلنه د کښت په وخت کې، 33 سلنه لس ورځې ورسته تر کښت، او 33 سلنه شل ورځې ورسته تر کښت; ($S_4$): 25 سلنه د کښت کولو په وخت کې، 25 سلنه لس ورځې وروسته تر کښت، 25 سلنه شل ورځې ورسته، او 25 سلنه دیرش ورځې ورسته تر کښت کولو. پدې څېړنه کې د نبات د ودې او حاصل فکتورونه د 30، 60، 90، او 127 کرنیزو ورځو په نظر کې نیولو سره پرتله سوي دي. موندنې ښيي چې، هرڅومره چې نایتروجني سره په ډېرو وقفو سره استعمال سوې ده په هغه اندازه د نبات وده او حاصل زیات سوی دی. همدارنګه موندنې روښانه کوي چې په دریو یا څلورو وقفو سره د نایتروجني سرې استعمال د یوې یا دوه وقفو په نسبت د نبات قد،  د پاڼې د سطحې شاخص (Leaf area index)، د نبات وچ وزن، د نبات د ودې اندازه (Crop growth rate)،

په نبات کي د وچو موادو خالص تجمع (Net assimilation rate)، په نبات کی د ټول وچ وزن زیاتیدل (Relative growth rate)، د پلیو تعداد، په پلیو کې د دانو تعداد، د 1,000 دانو وزن، د نبات حاصل، خالص او مجموعي ګټه، د مصارفو او ګټې ترمنځ نسبت (Benefit cost ratio) په 30، 60، 90 او 127 ورځو کې د پام وړ زیات کړي دي. د دې ترڅنګ په څیړنه دا هم جوته سوه چې د نبات د ودې، حاصل د فکتورونو او حاصل ترمنځ مثبتې اړیکې موجودې وې.

د څیړنې پایلې دا څرګندوي چې د نایتروجن 30 کیلو ګرامه في هکتار استعمال په دریو یا څلورو وقفو سره د سویابینو د ښې ودې او حاصل په موخه د نایتروجن د ضرورت وړ اندازه پوره کوي او د دې ترڅنګ د افغانستان تر نیمه وچو شرایطو لاندې د نایتروجني سرې مؤثریت زیاتوي.

**خلص سپارښتنې**

1. دا چې د 50 سلنې څخه زیاته نایتروجني سره خاورې ته د علاوه کولو ورسته ضایع کیږي، نو په همدې اساس نوموړې سره باید د نبات اړتیا ته په کتو سره د کرنیز موسم په جریان کې په وقفه اي توګه استعمال سي ترڅو د ضایعاتو څخه یې مخنیوی وسي.
2. نباتات د ښې ودې او حاصل ورکولو په موخه د ژوند په مختلفو مرحلو کې نایتروجني سرې ته اړتیا لري پداسې حال کې چې د ټولې نایتروجني سرې یوځلي استعمال د نبات اړتیا نسي پوره کولای. نو لازمه بریښي چې نایتروجني سره باید د نبات د ودییز فصل په مختلفو مرحلو کې په وقفه اي شکل سره استعمال سي.

# د شنو ماشو پر وده او حاصل باندې د نایتروجن او فاسفورس اغیزې

ځیړونکی: پوهنیار کرامت الله فاضل

د څېړونکي ایمېل ادرس : Karamatullah.fazil94@gmail.com

**لنډیز**

د عناصرو متوازن استعمال د نباتاتو د لوړو حاصلاتو او عایداتو د لاسته راوړلو لپاره ډېر مهم او اساسي دی، نایتروجن او فاسفورس دوه هغه عناصر دي چې د نورو په نسبت نباتات ورته ډېره اړتیا لري، چې په کمښت سره یې د نبات وده او تولید تر ډېره زیانمن کېږي او زیاتوالی یې هم د زهري کېدو او منفي تاثیراتو څخه خالي ندی. نو په همدې اساس د ماشو پر نبات چې لوړ غذایي او اقتصادي ارزښت لري یوه څېړنه د کندهار ولایت کې د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون په څیړنیز فارم کې په RCBD ډیزاین کې ترسره شوه چې پکې د نایتروجن دری مختلفې اندازې (۰، ۲۰ او ۴۰ کیلوګرام نایتروجن پرهکتار) او د فاسفورس څلور مختلفې اندازې (۰، ۴۰، ۶۰ او ۸۰ کیلوګرام $P_2O_5$ پر هکتار) استعمال سره ټول ۱۲ ټریټمینټونه په دریو تکرارونو کې و ارزول شول. د څېړنې په پایله کې معلومه شوه چې د ۲۰ کیلوګرام نایتروجن پر هکتار استعمال سره د ماشو تر ټولو لوړه وده، حاصل او عایدات ترلاسه شوي وو، همدارنګه د فاسفورس اندازو په منځ کې تر ټولو زیاته وده، لوړ حاصل او عاید د ۴۰ کیلوګرام $P_2O_5$ په استعمال سره ترلاسه شوی وو. د دواړو عناصرو ګډې اغیزې هم د ماش نبات پر وده، حاصل او عاید باندې مثبت او د پام وړ وې. ۲۰ کیلوګرام نایتروجن د ۴۰ کیلوګرام $P_2O_5$ سره یو ځای استعمال تر ټولو غوره پایله درلودله.

**کلیدي ټکي**: ماش، وده، حاصل، نایتروجن او فاسفورس

**خلص سپارښتنې**

ددې څېړنې په نتیجه کې کولای شو، بزګرانو او د مسلک خاوندانو ته د ماش نبات د ښې ودې او لوړ حاصل په موخه لاندې سپارښتنې ولرو:

1. ۲۰ کیلوګرام پرهکتار نایتروجن باید د کرلو پر وخت استعمال کړل شي.
2. د کرلو پر وخت د ۴۰ کیلوګرام $P_2O_5$ د استعمال سپارښته هم کېږي.

د دواړه عناصرو د استعمال ګډې اغیزې یو پر بل مثبت او په پورتنیو اندازو سره یو ځای استعمال یې د سپارښتنې وړ دی.

# د وربشو په وده، تولید او د هرزه بوټو په کنترول باندې د نایتروجن او هرزه بوټو د کنترول مختلفو طریقو اغیزې

څېړونکی: پوهنیار کرامت الله فاضل

د څېړونکي اېمېل ادرس : Karamatullah.fazil94@gmail.com

**لنډیز**

دغه څېړنه د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون په څېړنیز فارم کې د ۲۰۱۹ - ۲۰۲۰ میلادي کلونو په موده کې ترسره شوه تر څو د نایتروجن مختلفو مقدارونو او هرزه واښو کنترول طریقو تاثیرات د هرزه واښو په کنترول او د نبات په وده او تولید باندې و ارزوي. څېړنه په Split Plot Design او دریو تکرارونو کې ترسره شوه چې درې اصلي پلاټونه د هرزه واښو کنترول (($W_1$) Weedy Check، کیمیاوي کنترول چې له کرلو ۳۰ ورځې وورسته سپارښت شوی مقدار د clodinafop-propargyl (60 g ha$^{-1}$) + metsulfuron-methyl (4 g ha$^{-1}$) ($W_2$) او دریم ټریټمینټ د هرزه واښو هراړخیزه کنترول ($W_3$) چې له کښت څخه ۱۵ ورځې تر مخه د ځمکې قلبه + ۲،۵ ټنه په یو هکتار کې د غنمو پروړې استعمال او نیمایي مقدار د ذکر شوو کیمیاوي موادو کوم چې په دوهم ټریټمینټ کې استعمال شوي دي، شامل وو. فرعي پلاټونه څلور وو چې د نایتروجن څلور مختلف مقدارونه (۰، ۴۰، ۸۰او ۱۲۰ کیلوګرام پر هکتار) پکې استعمال او په ($N_0$, $N_{40}$, $N_{80}$ and $N_{120}$) سره ښودل شوي وو. د څېړنې پایلو وښودله چې د هرزه واښو هر اړخیزه کنترول یعنې ($W_3$) د هرزه واښو ډېر ښه کنترول ترسره کړی وو او تر نورو ټولو یې د کنترول مؤثریت لوړ وو، په همدغه ټریټمینټ کې د نبات تر ټولو زیاته وده، د پاڼې ساحه، وچ وزن، CGR، RGR، NAR، د ۱۰۰۰ دانو وزن، د مؤثره ټیلرونو شمېر، د دانې او پروړې حاصل او همدارنګه د لوړو خالصو او ناخالصو عایداتو ترڅنګ د خالصې ګټې او مصرف نسبت ترلاسه شوي وو. د نایتروجن په ټریټمینټونو کې هم $N_0$ ټریټمینټ چېرته چې هیڅ نایتروجن نه وو استعمال شوی د هرزه واښو تر ټولو کم نفوس او لوړ کنترول مؤثریت ثبت کړ او د نبات وده، فزیالوژیکې پارامترونه، د حاصل برخې، حاصل او اقتصادي پارامترونه چې مخکې یې یادونه شوې ده په $N_{120}$ ټریټمینټ کې تر ټولو لوړ او ورپسې ډېر نږدې $N_{80}$ ټریټمینټ کې ترلاسه شوي وو او دواړه ټریټمینټونه له نورو څخه د اهمیت وړ لوړوالی درلودولو.

**کلیدي ټکي**: نایتروجن، هرزه واښه، وربشې، وده او حاصل.

**خلص سپارښتنې**

ددې څېړنې په نتیجه کې کولای شو، بزګرانو او د مسلک خاوندانو ته لاندې سپارښتنې ولرو:

1. د وربشو او غنمو په کروندو کې د هرزه واښو د کنټرول لپاره هراړخیزه کنټرول (IWM) تر نورو غوره او کولای شي چې د هرزه واښو وژونکو نیمايي دوز له عضوي ملچ سره یو ځای استعمال کړي.
2. د یادولو وړ ده چې د کښت څخه تر مخه د ځمکې قلبه کول او اوبه کول تر څو هرزه واښه یې را زرغون شي او بیا بیرته قلبه او له منځه یوړل شي د هرزه واښو د کنټرول ډیره مؤثره او باثباته کړنه ده.
3. د وربشو د ښې ودې، حاصل او عایداتو لپاره د ۸۰-۱۰۰ کیلوګرامه نایتروجن پر هکتار کافي او مؤثر دی، د استعمال سپارښتنه یې کېږي.
4. د ټولو نباتاتو د تخم د راټوکېدلو لپاره نباتي ملچونه ډیر مؤثر او ګټور دي، استفاده دې ترې وشي.

## په کندهار ولایت کښې د پنبې نبات د دریو ورایټیو د حاصلاتو او عایداتو پرتله

څېړونکی: پوهندوی قدرت الله احسان

د څېړونکي اېمېل ادرس: Qudrat.ehsan@gmail.com - qudrat.ehsan@anastu.edu.af

**لنډیز**

څېړنه د کندهار ولایت د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون په څېړنیز فارم (ترنک فارم) کښې د پنبې نباتاتو د درو ورایټیو د حاصلاتو او عایداتو پرتله باندې تر سره سوې ده، په څېړنه کښې په درې تکراره د پنبې درې ورایټۍ (Acala 15-17-99)، (FAO-108) او (N-726) د (F-RCBD) ډیزاین سره کرل سوې، ټول ارقام په معیاري ډول سره راټول سوي او د تحلیل وروسته تشریح سوي دي، چې یاده څېړنه د جوزا د میاشتي د 10 نېټې څخه

بیا د 1400 ل. کال د قوس د میاشتي تر 5 نېټې پورې ئې دوام درلود. په څېړنه کښې د (N-726) ورایټۍ څخه تر نورو دوو ورایټیو ډېر حاصلاتو او عایدات په لاس راغلي وه چې د حاصل عاملینو (38.4 غوزې پر نبات، 3.5 گرامه د یوې غوزې وزن، 29.8 دانې تخمونه پر غوزه او 1157 دانې تخمونه پر نبات) تولید کړي وو. همدا ډول د پروړو حاصلات (5583 kg/ha)، د تخمونو حاصلات (4863 kg/ha)، د پنبې د تارونو حاصلات (1808 kg/ha) کیلو گرامه پر هکتار، د اوبو د استعمال وړتیا (9.7)، ټوله عایدات (269915؋)، خالص عایدات (214315؋) افغانۍ پر هکتار او د عاید او لگښتونو ترمنځ نسبت (4.87) په لاس راغلي او ورځني حاصلات 32.5 کیلو گرامه او ورځني عایدات 1045 افغانۍ تر لاسه سوي دي. په پایله کښې و کروندگرو ته سپارښتنه کوو چې د پنبې (N-726) اصلاح سوې ورایټي په کرلو سره به لوړ حاصلات او عایدات ترلاسه کړي، تر څو د کروندگرو د ژوند په ښه کولو او اقتصادي حالت برابرولو کښې به اغېزمن رول و لوبولاي سي.

**کلیدي کلمې:** پنبه، حاصلات، عایدات، کندهار، ورایټي.

**خلص سپارښتنې**

3. د هیواد د تجارانو څخه غوښتنه کوو چې د پنبې نبات اصلاح سوې ورایټۍ هیواد ته راوړي.
4. د کرهنې، اوبولگونې او مالدارۍ ریاست څخه غوښتنه کوو چې و کروندگرو ته د اصلاح سوو ورایټیو د ترویج ترڅنگ د کروندگرو ته عامه پوهاوی ورکړي تر څو د محلي ورایټۍ پر ځای د اصلاح سوې ورایټۍ څخه په خپل کښت او کرونده کښې استفاده وکړي.
5. د مسلک د مینه والو څخه غوښتنه کوو چې د پنبې پر اصلاح سوو ورایټیو څېړنې ترسره کړي، تر څو د پایلو څخه ئې کروندگر گټه پورته کړي.
6. د کندهار ولایت د کروندگرو څخه غوښتنه کوو چې د پنبۍ (N-726) ورایټي وکري او له دې لارې څخه خپل په عایداتو او اقتصادي حالت کښې ښه والی راولي.

# په کندهار ولایت کښې د مې د دوو ورایټیو پر حاصل باندي د پوتاشیم د بېلا بیلو اندازو اغېزې

څېړونکی: پوهندوی قدرت الله احسان

د څېړونکي ایمیل ادرس: Qudrat.ehsan@gmail.com - qudrat.ehsan@anastu.edu.af

## لنډیز

څېړنه په 1398 ل. کال د ثور د میاشتي پر 16 نېټه دکندهار پوهنتون کرهنې پوهنځی د څېړنیز فارم په ساحه کې شروع او د 1398 ل. کال د اسد پر 19 نېټه پای ته ورسېده. څېړنه د (RCBD) په ډیزاین کښې ترتیب سوې وه، چې دوې ورایټۍ (NM-94 and Local)، پنځه د پوتاشیم بېلابېلي اندازې، 10 فلاټه او درې تکراره یې درلوده. د مې نباتاتو اصلاح سوې (NM-94) ورایټي حاصلات ($1438.20$ Kg $ha^{-1}$) ، پروړ(بیدې) (Kg $ha^{-1}$ 3208.67) او بایو ماس (4646 Kg $ha^{-1}$) ارقام نسبت و محلي (Local) ورایټي ته ډېر دي. د مې نباتات پر وده او حاصلاتو باندې د پوتاشیم اندازو څخه د 80 کیلو گرامه پوتاشیم پر هکتار په احصائیوي توگه د نباتاتو حاصلات (1813 Kg $ha^{-1}$)، پروړ(بیده) (Kg $ha^{-}$ 3250[1]) او بایوماس (5063 Kg $^{ha-1}$) نسبت و 0 Kg K2O $ha^{-1}$ کیلو گرامه پر هکتار ته زیات دي. د مې اصلاح سوې (NM-94) ورایټي او 80 کیلو گرامه پوتاشیم پر هکتار په علاوه کولو سره د مې نباتاتو په حاصلاتو کښې زیاتوالي لیدل کېږي. او اصلاح سوې (NM-94) ورایټي د کندهار په آب او هوا کښې ښه نتیجه ورکړه.

**کلیدي کلمې:** پوتاشیم، حاصل، د ماشو ورایټۍ، کندهار ولایت.

## خلص سپارښتنې

1. د کندهار په آب او هوا کښې د لوړو حاصلاتو او عایداتو د ترلاسه کولو لپاره د مې (NM-94) اصلاح سوې ورایټي کرنه او 80 کیلو گرامه پوتاشیم پر یوه هکتار مځکه د استعمال سپارښتنه کیږي.

# د افغانستان د نیمروز ولایت د غلو دانو او حبوباتو پر تولید د کمال خان بند اغېزې

څېړونکی: پوهندوی قدرت الله احسان

د څېړونکي اېمېل ادرس: Qudrat.ehsan@gmail.com - qudrat.ehsan@anastu.edu.af

**لنډیز**

افغانستان د اوبو د سیندونو د پنځه سترو حوزو څخه یې یواځې موږ د هلمند حوزې پر سر چې ایران ته بهیږي تړون لرو. د ایران سره د لاسلیک سوي تړون له مخې په یو ثانیه کې ایران ته د هلمند د سیند د بهېدونکو اوبو اندازه 22 متره مکعبه ده. د افغانستان دولت تر ډېرو هلو ځلو وروسته و توانیدی چې د کمال خان بند و ګټې اخیستنې ته چمتو کړي. کمال خان د اوبو بند د نیمروز ولایت د چهاربرجک په ولسوالی کښې ګټې اخیستنې ته چمتو سوی دی، یاد د اوبو بند د طول البلد او عرض البلد په (30°21′0″N 61°55′0″E) درجو، دقیقو او ثانیو کښې موقیعت لري. یاد د اوبو بند د جوړېدو چارې په 1974 میلادي کال کې د کرنیزو مځکو د خړوبونې او برېښنا د تولید په منظور شروع سوې وې. کمال خان بند د هلمند په سیند جوړ شوی بند دی چې د 85 میلونه امریکایي ډالره لګښت په درلودلو سره د 16 متره په لوړوالي، 2.274 کیلو متره په اوږوالي او د (9 GWh) برېښنا تولید تر څنګ د 175000 هکتاره څخه ډېره کرنیزه مځکه خړوبوي. د کمال خان بند به د نیمروز ولایت د غله دانو او حبوباتو د محصولاتو په ډېر تولید کښې مهم رول ولري. د غلو دانو او حبوباتو ټولې برخې (پاڼه، ساقه، ریښه، ګل او تخمونه) د انسانانو اوحیواناتو لپاره یوه بشپړه غذاء ده. په یاد ولایت کښې د غلو دانو اوحبوباتو تولید به د غذائي خوندیتوب رامنځ ته کېدو سره سره، د لوږې او خوارځواکۍ کچه راکمه سي، او د نیمروز ولایت اوسېدونکو په ځانګړي ډول سره د یاد ولایت د کمال خان بند تر اوبو لاندې سیمو کروندګرو غذائي او اقتصادي نیمګړتیاوو ته به د پای ټکی کېښودل سي.

**کلیدي کلمې:** حبوبات، غلې دانې، کمال خان بند او نیمروز ولایت.

**خلص سپارښتنې**

1. د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ سره په تړاو ټولو دولتي او نا دولتي ادارو په همږغۍ سره پلان ترتیب سي، او په ګران هیواد افغانستان په ځانګړي ډول سره د نیمروز ولایت په وچو سیمو کښې و علمي څېړنو ته وده ورکړي او پالیسي جوړونکو ادارو ته یادي څېړنې په اختیار کې ورکول سي تر څو د وچو سیمو لپاره یوه بهتره کرنیزه پالیسي ترتیب او عملي کړل سي.
2. د سیمي و کروندګرو ته د اوبو لګونې اړوند مکمل معلومات او د ظرفیت لوړونې په برخه کښې ( لنډ مهاله او اوږد مهاله روزنیز کورسونو او ټرینینګونو له لارې نباتاتو ته د اوبو لګونې موثره طریقې او د اوبو لګونې وختونه او مقدر په ځانګړي ډول سره د غله دانو او حبوباتو اړوند د اوبو د سپما ډولونه) په اختیار کې ورکول سي.
3. د غلو دانو او حبوباتو اصلاح سوي تخمونه د سیمې و کروندګرو ته پر وخت په اختیار کې ورکول سي.
4. د غلو دانو او حبوباتو د کرلو، اوبه کولو، کود (سرې/امبار) ورکولو او حاصل ټولولو وختونه ورته په نښه کړل سي.
5. د سیمي کروندګرو ته د هرزه واښو (ناکاره بوټو) کنترول، اداره کول او له مینځه وړلو په هکله بشپړه معلومات ورکول سي، تر څو د اصلي نباتاتو (غله دانو او حبوباتو) سره د اوبو، هوا او غذائي موادو کښې رقابت و نه کړي.
6. د نباتاتو په ځانګړي ډول سره د غلو دانو او حبوباتو د اړتیا وړ کیمیاوي، حیواني او نباتي کود (سرې/امبار) اندازه او مقدار و اړوند کروندګرو ته په نښه کړل سي.

# د جوارو پر حاصلاتو او عایداتو باندې د نباتاتو تر منځ فاصلې او نایتروجن د استعمال اغېزې

څېړونکی: پوهندوی قدرت الله احسان

د څېړونکي اېمېل ادرس: Qudrat.ehsan@gmail.com - qudrat.ehsan@anastu.edu.af

**لنډیز**

جوار (*Zea mays* L.) د کرنې او مالدارۍ په برخه کښې یو انقلاب راوستونکی او په زړه پوري نبات دی، چې کرهنه یې په ځانګړي ډول سره د نړۍ 2000 میلیونه متریک ټنه خوراکي توکو برابرولو کې د پام وړ مرسته کوي. یاده څېړنه د جوارو پر حاصلاتو او عایداتو د نباتاتو تر منځ فاصلې او نایتروجن د استعمال اغېزې تر عنوان لاندې د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون په څېړنیز فارم کښې په ۱۳۹۷ ل. کال کې د جوارو پر حاصلاتو او عایداتو د نباتاتو ترمنځ فاصلې او نایتروجن اغېزو ښودلو په منظور ترسره سوه. څېړنه د دولس تریټمینټونو (درې د نباتاتو ترمنځ فاصلې (60×10, 60×20 and 60×30) او څلور د نایتروجن اندازې N1: Control, N2: (50 kg N/ha), N3: (100 Kg N/ha) and N4: (150 Kg N/ha).)، درې تکراره او د سفلیټ پلاټ ډیزاین سره ترسره سوه. په پایله کښې د نباتاتو ترمنځ 20 سانتي متره فاصلې او 150 کیلوګرامه نایتروجن استعمال تر ټولو ښه تریټمینټ په نښه سوو چې د تخمونو حاصل یې (5422) کیلوګرامه پر هکتار، پروړو حاصل (9468) کیلو ګرامه پر هکتار، ټول عایدات (190977؋) افغانۍ پر هکتار، خالص عاید (144477؋) افغانۍ پرهکتار او د حاصلاتو او لګښتونو تر منځ نسبت (4.13) په لاس راغلی وو.

**خلص سپارښتنې:**

د جوارو د لوړو حاصلاتو او عایداتو د لاسته راوړلو په موخه کروندګرو ته سپارښتنه کېږي، چې د جوارو نباتات (20×60 cm) فاصله سره وکري او د اړینو عناصرو تر څنګ د نایتروجن (150 Kg N/ha) د جوارو کښت او کروندې ته علاوه کړي، تر څو د مشخصې مځکې (ساحې) څخه د خپل خوښې وړ حاصلات او عایدات په لاس راوړي.

# د غنمو پر وده او حاصل باندې د اوبولګونې د طریقو اغېزې

څېړونکی: پوهندوی قدرت الله احسان

د څېړونکي ایمېل ادرس: Qudrat.ehsan@gmail.com - qudrat.ehsan@anastu.edu.af

**لنډیز**

په نړۍ کښې د اقلیم او د نباتاتو اړتیاوو ته په کتو سره د اوبو لګونې بېلابېلې طریقې کارول کېږي. په دغه کتابتوني څېړنه (د غنمو پر وده او حاصل باندې د اوبولګونې د طریقو اغېزې) کې د غنمو پر فزیالوژیکي خواصو باندې، درې د اوبو لګونې طریقې(سطحي اوبه لګونه، په پاشان ډول سره اوبه لګونه او د څاڅکو په ډول سره اوبه لګونه) څېړل سوې دي. د څاڅکو په شکل سره اوبه لګونه د غنمو پر وده او حاصلاتو باندې مثبت تأثیر لري، نسبت و غرق آب اوبه لګونې ته. د څاڅکو په ډول سره اوبه لګونه په هر اړخیزه توګه د غله جاتو خصوصاً د غنمو د تولیداتو او کیفیت په ښه والي کښې مهم رول لري. د څاڅکو په ډول سره د اوبولګونې طریقې اوس مهال په ټوله نړۍ خصوصاً په هند او چین هیوادونو کښې کارول کېږي، چې د اوبو په سپمولو کښې یو نوښت بلل سوی دی، د نړۍ په وچو او نیمه وچو سیمو کښې د غنمو د حاصلاتو د ډېروالي او د اوبو د کارولو موثریت (WUE) زیاتوالي لپاره یو نوښت لرونکې وسیله ثابته سوې ده. ډېرو څېړونکو روښانه کړې ده چې د غنمو کروندې ته د څاڅکي په ډول سره اوبه ورکول په حاصل ورکونکو لاملونو، حاصلاتو، استعمال سوو زیرمو او عایداتو کښې زیاتوالی راولي. دا کتابتوني څېړنه په ښه کوي چې د څاڅکو په ډول سره د اوبولګونې سیستمونه د وچو او نیمه وچو سیمو لپاره نباتاتو ته په پوره توګه د اوبو رسونې او د خاورو په حاصلخېزۍ کښې یو نوښت لرونکې لاره ده. نو له دې امله باید زیاتې څېړنې د څاڅکو په ډول سره اوبولګونې سیستمونو کې ترسره سي، تر څو کرنیزې مځکې (باراني او نیمه وچې) سیمو کښې د اوبولګونې سیستمونه و ارزول سي.

**کلیدي کلمې:** حاصل، د اوبولګونې طریقې، غنم او وده

**خلص سپارښتنې**

1. د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو ریاست څخه غوښتنه کوم چې د غنمو د اوبولګونې بهترینې طریقې و کروندګرو ته ترویج کړي.

2. دولتي چارواکو او په خاص ډول د ترویج مامورینو ته سپارښتنه کوم تر څو دا علمي څېړنه کروندګرو ته ور ورسوي او ترویج ئې کړي.

3. د دولتي او غیري دولتي همکارو ادارو څخه غوښتنه کوم چې د پرمختللو اوبو لګولو سیستم و کروندګرو ته د غنمو د کرلو لپاره توضیح او د اوبولګونط په طریقو کې د قطره یي اوبه لګونې او پاشان اوبو لګونې سیستمونه و کروندګرو ته ترویج کړي.

4. افغان کروندګرو ته سپارښتنه کوم چې د غنمو په کښت کې د پاشان او څاڅکو په ډول سره اوبولګونې سیستمونو څخه کار واخلي تر څو په یوه مشخصه ساحه کښې د اوبو او استعمال سوو زیرمو لګښتونه لږ کړي او ډیر حاصلات، تولیدات او عایدات تر لاسه کړي.

## د ماش (مې) پر وده او حاصل باندي د کرلو د طریقو اغېزې

څېړونکی: پوهندوی قدرت الله احسان

د څېړونکي ایمېل ادرس: Qudrat.ehsan@gmail.com - qudrat.ehsan@anastu.edu.af

**لنډیز**

دکرلو طریقې د ماش (مې) پر وده او حاصلاتو باندې ډیر تاثیر کوي، نو څکه د ماش (مې) پر وده او حاصل باندي د کرلو د طریقو اغېزې موضوع باندې د 1394 هـ ش کال د سرطان د میاشتي څخه د میزان تر میاشتي پورې د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ د ملي پوهنتون په څېړنیز فارم کې څېړنه تر سره شوه. د نوموړي فارم ساحه د ریګي کلي لوم خاورې په درلودلو سره ېې د پي ایچ اندازه( 7.23)، د استفادې وړ (NH4) یې 23.2Kg/ha او د (NO3) یې 36.2Kg/ha ، د استفادي وړ فاسفورس یې (23Kg/ha) او د پوتاشیم اندازه

يې (480 Kg/ha) وه . د څېړنې ډیزاین سفلیټ پلاټ، درې تکراره چې دوې د کرلو طریقې یې په (اصلي کورد) مین پلاټ او څلور د فاسفورس اندازې یې په (فرعي کورد) سب پلاټ کې ځای پر ځای سوې وې. د 25Kg/ha په اندازه سره د 1394 هـ ش کال د سرطان د میاشتي په لسمه نیټه تخمونه کرل سوي دي. قطاري کرنې د ماش (مۍ) د نبات او ریښو د نمو (د نبات جګوالی، د نبات وچ او لوند وزن، د نبات د څانګو شمېر، د ریښو وچ او لوند وزن، د ریښو اوږدوالی او د ریښو د نادیلونو شمېر) ارقام نسبت پاشان کرنې ته ډېر تولید کړي وو. همداشان د نبات حاصل او حاصل ورکونکي عاملین (پلی پر نبات، د پلي اوږد والی، تخمونه پر پلي، د تخمونو وزن پر نبات، د 1000 تخمونو وزن، د غلې حاصل (1284Kg/ha) د پروړو حاصل (2943 Kg/ha)) ارقام او د استعمال سوو زیرمو WUE (7.1Kg/ha/mm)، PE (14.8Kg/ha/day ) او ME (952AFN/ha/day) ارقام او د تولید پر اقتصادي والي لکه (ناخالص عاید 104582AFN/ha)، (خالص عاید 82845AFN/ha) او (د ګټې او لګښت تر مینځ نسبت 4.8) ارقام په قطاري کرنه کې نسبت و پاشان کرنې ته ډېر مشاهده سوي وو. نو په قطاري ډول سره د ماش (مۍ) کرل نه یوازې ښه حاصل او ډیره ګټه په لاس راوړل دي، بلکه د استعمال سوو زیرمو څخه هم په ښه ډول استفاده کول دي.

**کلیدي کلمې:** حاصل، د کرلو طریقې، ماش (مۍ)، او وده

**خلص سپارښتنې**

د کرلو طریقو څخه موږ ته معلومه شوه چې قطاري کرنې نسبت پاشان کرنې ته د نباتاتو پر وده او نمو باندې، د نباتاتو د ریښـو پر وده او نمو باندې، د نباتاتو د حاصـل ورکونکې عاملینو باندې، د نباتاتو پر حاصـل باندي او د نباتاتو څخه د لاسـته راغلی عاید باندې ډېر تاثیر کړی وو. یعنې په قطاري ډول سره د ماش (مۍ) نبات کرل چې د نباتاتو ترمینځ فاصـله یې 5 سـانتي متره او د قطارو تر مینځ فاصـله یې 45 سـانتي متر په اندازه سره بهترینه حاصـل، ښـه عاید او د اسـتعمال سـوو زیرمو څخه په ښـه ډول سره اسـتفاده کولای سي، نسـبت پاشـان کرني ته. نو کروندګرو ته توصیه کوم چې حبوبات خصوصاً ماش (مۍ) په قطاري ډول سره وکری چې تر پاشان کرنې ښه نتیجه به لاسته راوړل سي.

# د ماشو پر وده او حاصل د هرزه وښو وژونکو د استعمال اغېزې

څېړونکی: پوهندوی قدرت الله احسان

د څېړونکي اېمېل ادرس: Qudrat.ehsan@gmail.com - qudrat.ehsan@anastu.edu.af

**لنډيز**

د ځینو هرزه واښه وژونکو لکه Glyphosate, Metribuzin, Fluchloralin او 2,4 D تاثیرات د ماشو پر وده، نادیولونو پر تشکیل، فوتوسنتیز پر عملیې، د نایتروجن پر نصب، د تخمونو او دانو پر تشکیل او په دانه کې د پروټین پر تشکیل تر بحث لاندې ونیول سوه. د ماشو تخمونه تر کرلو مخکې د Bradyrhizobium sp باکتریا سره اناکولېټ سول. هرزه واښه وژونکي په درو مختلفو دوزونو سره په خاوره کې استعمال سول، هر دوز د ځان سره مختلف تاثیرات لرل لکه: د Glyphosate په 0.5 µg فعاله موادو سره د تخم نیونې کچه 12.5% سلنه ډېر سوي وو، همدارنګه د Metribuzin په 0.5 µg او 1 µg فعاله موادو سره د نبات حاصلات 33.5 % او 55.5 % لږ سوي وو. د Fluchloralin په 0.5 µg فعاله موادو سره 3.41mg/g کلوروفیل اضافه تشکیل سوی وو، همدارنګه د 2,4 D په استعمال سره په نبات کې د پام وړ نادیلونه تشکیل سوي وو. د ټولو هرزه واښه وژونکو د استعمال څخه په عموم کې دا نتیجه په لاس راغلل، چې Metribuzin په زیاته کچه په نبات کې زهریت رامنځته کوي، د دې تر څنګ د نبات وده هم تر تاثیر لاندې راولي. کروندګرو ته هم همدا سپارښتنه کوو چې د لیګومي نباتاتو په کروندو کې د Metribuzin د استعمال څخه جداً ډډه وکړي او د نورو هرزه واښه وژونکو د استعمال څخه مخکې د هغوی په دوز او د فعاله موادو په اندازه باندې و پوهېږي تر څو و توانېږي هم هرزه واښه کنټرول کړي او هم د نبات حفظ الصحوي مراقبت په پام کې نیول سوی وي.

**کلیدي کلمې** : حاصل، ماش، وده، هرزه واښه وژونکي

**خلص سپارښتنې**

1. د هرزه واښه وژونکو د استعمال څخه مخکې لومړی د هغوی په ډوز پوهیدنه لازمه او د هغوی تاثیرات د نبات په مختلفو وده ایېزه مرحلو کې تر څېړنې لاندې ونیسئ.

2. د ډوز په ټاکلو کې باید د ډېر احتیاط څخه کار واخیستل سي او په نبات کې ئې د پاته کېدو موده تر بحث لاندې ونیول سي چې په نبات کې یې اثرات تر کومه او تر څومره اندازي پاتېداى سي.

3. د کروندگرو څخه دا غوښتنه کوم چې د Metribuzin د استعمال څخه ډډه وکړي او پر ځاي یې د Fluchloralin او Glyphosate کم ډوزونه استعمال کړي تر څو هم هرزه واښه له منځه تللي وي او هم ئې د کروندې حاصلات د تاوان څخه ساتل سوي وي.

4. د هرزه واښه وژونکو د استعمال څخه مخکې دا مهمه ده چې باید وپوهیږو چې کوم هرزه واښه وژونکي د نبات لپاره زهري او کوم د نبات په گټه تمامېدلاى سي.

# د غنمو پر وده او حاصلاتو باندې د فاسفورسي سرې د مختلفو اندازو اغېزې

ځېړونکی: پوهنمل دوکتور حکمت الله

د ځېړونکي برېښنالیک: hikmat_obaid@yahoo.com

**لنډیز**

غنم د لوړو غذايي موادو په لرلو سره د انساني خوړو په برخه کې لومړی مقام لري. د دې نبات وده، حاصلات او د حاصلاتو کیفیت په خاوره کې نورو عناصرو ترڅنګ د فاسفورس د مناسبې اندازې سره مستقیمې اړیکې لري. نو په همدې موخه د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون (انسټو) د ځېړنیز فارم په ساحه کې په 2018 کال کې د غنمو د کښت په موسم کې د غنمو (ششم باغ-08) پر وده او حاصلاتو باندې د فاسفورسي سرې د مختلفو اندازو اغیزې د ځېړلو لپاره یوه ساحوي ځېړنه ترسره سوه. د فاسفورسي سرې مختلفي آته (8) اندازې لکه: 0، 15، 30، 45، 60، 75، 90او 105 کیلوګرامه فاسفورس ($P_2O_5$ kg/ha) په یوه هکتار (پنځه جریبه) کې په تصادفي بشپړ بلاک ډیزاین (RCBD) کې په دریو (3) تکرارونو کې و ارزول سوې. د ځېړنې پایلې څرګندوي چې د فاسفورس د اندازې له امله د غنمو په وده، د حاصلاتو پر ځانګړتیاوو او په حاصلاتو کې د پام وړ توپیرونه شتون درلودی. د 90 کیلوګرامه فاسفورسي سرو په استعمال سره په اوله درجه د پام وړ د نبات لوړوالی، په نبات کې د وچو موادو تجمع، د پاڼو د ساحې شاخص، په یوه متر مربع کې د ټیلرونو شمېر، د سپایک اوږدوالی، د دانو شمېر په یوه سپایک کې، د غنمو وزن په یوه سپایک کې، دزرو دانو وزن، د غنمو حاصل، د پروړو حاصل، د مجموعي حاصل او د حاصلاتو شاخص (B:C) موندل سوي وو. همداشان د غنمو نوموړي مشاهدات د 60 کیلو ګرامه فاسفورس سرې په استعمال سره په دوهمه درجه په مثبت شکل اغیزمن سوي او دوهمه درجه د غنمو ډیر اقتصادي حاصلات ترلاسه سوي. د غنمو نورې کرل کیدونکي نوعې هم باید د فاسفورسي سرو د مختلفو اندازو په علاوه کولو سره مطالعه سي. **کلیدي کلمې**: حاصل، غنم، فاسفورس، وده

**خلص سپارښتنې**

د ځېړنې د پایلو څخه دا سپارښتنه کیږي چې د غمنو د یو هکتار کښت لپاره د 60-90 کیلوګرامه پر هکتار فاسفورسي سرې ($P_2O_5$) کارول خورا ګټور او اغیزمنه اندازه ده چې د کښت څخه ډیر لوړحاصلات او اقتصادي ګټه ترلاسه کیږي.

# د جوارو د عایداتو او لګښتونو پر اساس د نایتروجني او فاسفورسي سرو اندازې ټاکل

څېړونکی: پوهنمل دوکتور حکمت الله
د څېړونکي برېښنالیک: hikmat_obaid@yahoo.com

**لنډيز**

جوار د حیواني او انساني تغذیې په برخه کې یو مهم نبات دی او د کروندګرو په اقتصادي پاوړتیا کې پراخه ونډه لري. جوار د خاورې څخه په لوړه اندازه نباتي غذا، په شمول د ناتیروجن (N) او فاسفورس($P_2O_5$)، جذبوي او د نباتي غذايي عناصرو کمښت په خاوره کې رامنځته کیږي چې دجوارو پر حاصلاتو او عایداتو باندې منفي اغیزې کوي. نو په همدې موخه په 2015م کال کې یوه ساحوي څېړنه د جوارو د عایداتو او لګښتونو پر اساس د نایتروجني او فاسفورسي سرو (NP) د اندازې ټاکل د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون په څېړنیز فارم کې چې موقعیت یې په ختیځ طول البلد (65°51'55.7"E) او شمالي عرض البلد (31°27'13.8"N) او د بحر له سطحې څخه په 1010 m لوړوالي دی، تر سره سوه. د کرنیزې ساحې خاوره په لږه اندازه القلي (pH = 7.4) او د کښت څخه مخکې یې د NPK اندازه په ترتیب سره 150، 21 او 49 (کیلوګرامه په یوه هکتار کې) وه د خاورې ټولګی یې ریګي کلي لوم وه. د دغې څېړنې ډیزاین (RCBD) په شکل وه، اته (8) اندازې د ناتیروجني او فاسفورسي سرو (N+P kg/ha) لکه: $T_1$ (0)، $T_2$ (20+10)، $T_3$ (40+20)، $T_4$ (60+30)، $T_5$ (80+40)، $T_6$ (100+50)، $T_7$ (120+60) او $T_8$ (140+70) په دریو (3) تکرارونو کې ترتیب سوي وې. د څېړنې پایلې دا ښیي چې د NP سرو د جوارو پر حاصل او عوایدو باندې په څرګند ډول اغېزې کړې وې. له ټولو څخه لوړ د اهمیت وړ د دانو حاصل (6.25 t/ha)، ټانټیوحاصل (15.61 t/ha)، صافي عاید (156,400.0 AFG/ha) او B:C (2.34) په $T_8$ ټریټمینټ کې ترلاسه سوي او په همدې ترتیب دوهمه درجه لوړه د اهمیت دغه مشاهدات په $T_6$ ټریټمینټ کې چې د کنټرول او نورو ټولو پلاټونو په نسبت د اهمیت وړ زیاتوالی وو راغلي دي. د NP او نورو اړینو عناصرو ګډې اغیزې د جوارو د حاصلاتو او عوایدو په برخه کې سپړل اړین بریښي.

**کلیدي کلمې**: جوار، عاید، فاسفورس ، لګښتونه او نایتروجن

**خلص سپارښتنې**

هغه سيمه چې د خاورو او آب و هوا خواص يې د همدې څېړني له ساحې سره برابر وي د 140 او 70 (کيلوگرامه په يوهکتار کې) په ترتيب سره د نايتروجني او فاسفورسي سرې علاوه کول د جوارو د لوړ حاصل او عوايدو سبب گرځي او په هغو سيمو کې چې د سرو قيمت لوړ وي او کروندگر نايتروجني او فاسفورسي سرو ته په زياته کچه لاسرسی نه لري ددې سرو په ترتيب سره 100 او 50 (کيلوگرامه په يوه هکتار کې) ښه نتيجه ورکوي، ساحې ته په کتو سره د پورتنيو پايلو د تطبيق سپارښتنه کيږي.

## د کندهار په نيمه وچو شرايطو کې د شنه ماشو (ويگنا راديتا) په توليد باندې د فاسفورس او پوتاشيم د استعمال اغيزې

څېړونکی: يما نوری

څېړونکي ايمېل ادرس: Yammanoori2@gmail.com

**لنډيز**

د 2017م کال په دوبي موسم (د اگسټ تر نومبر) کې يوه ساحوي تجربه په کندهار کې د شنو ماشو [Vigna radiata (L.) R. Wilczek] پر وده او حاصل باندې د پوتاشيم او فاسفورس د مختلفو کچو د اغيزو د څېړنې لپاره ترسره سوه. ياده تجربه د لسو ټريټمنټ ترکيبونو له لارې په RBD ډيزاين کې ترتيب سوې وه، چې د فاسفورس د دريو مختلفو کچو (40, 60 and 80 kg $P_2O_5$/ha)، پوتاشيم دريو مختلفو کچو (20, 40 and 60 kg $K_2O$/ha) او يو مطلق کنترول يا Absolute control درلودونکې وه.

د تجربې په پاته ټريټمنټونو کې د 80 kg $P_2O_5$with 60 kg $K_2O$/ha استعمال په نتيجه کې د لوړ نبات قد (43.9 cm) ، د وچو وزن مجموعه يا dry-matter accumulation يې (15.7 g/plant)، د پاڼې د مساحت انډيکس يې (1.70)، پر نبات د پليو شمېر يې (22.9)، د پلي اوږدوالی يې (7.59 cm)، في پلي کې د تخمونو شمېر يې (7.97)، د

1000-دانو وزن ئې (47.6 g)، د غلو حاصل یا grain yield ئې (1.55 t/ha)، stover yield یې (4.01 t/ha) او د حاصلاتو انډیکس یا harvest index ئې (27.80) و.

د $80\ kg\ P_2O_5 + 60\ kg\ K_2O$ استعمال د کندهار په نیمه وچو ساحو کې د شنو ماشو د لوړ حاصلاتو غوره ټریټمنټونه لري.

**کلیدي کلمې**: شنه ماش، فاسفورس، پوتاشیم،حاصلخیزي او نیمه وچې ساحې

**خلص سپارښتنې**

د ازمایښتونو پایلې دا ښیي چې د شنو ماشو پر وده او حاصل د $80\ Kg\ P_2O_5/ha$ او $60\ Kg\ P_2O_5/ha$ ګډ ترکیب د کندهار په نیمه وچو اقلیمي شرایطو کې د حاصلاتو د لوړې کچې د ترلاسه کولو لپاره ډېر مؤثر دئ او د استعمال سپارښتنه یې کیږي.

## د NPK سرې د استعمال کچه او په کندهار کې یې د غنمو پر وده او حاصل اغیزې

**څېړونکی: یما نوری**

**څېړونکي ایمیل ادرس: Yammanoori2@gmail.com**

**لنډیز**

دغه څېړنه د عمومي منل سویو میتودونو په رڼا کې، د افغانستان د زراعتي علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د ساحوي څېړنیز مرکز د اصولو سره سم ترسره سوې ده.

**د څېړني هدف**: د غنمو د Chont-01 ورایټي پر حاصل او وده د NPK د مختلفو کچو د استعمال د اغېزو مطالعه.

په دغه څېړنه کې د غنمو پر حاصل د نایتروجن، فاسفورس او پوتاشیم د مختلفو ترکیبونو مختلف ډوزونه کارول سوي دي. لاندې ترکیبونه د تجربې په ډیزاین کې شامل دي:

$T_0$ (0-0-0 NPK), $T_1$ (70-30-30 NPK), $T_2$ (70-30-60 NPK), $T_3$ (70-60-30 NPK), $T_4$ (70 -60-60 NPK), $T_5$ (140-30-30 NPK), $T_6$ (140-30-60 NPK), $T_7$ (140-60-30 NPK) and $T_8$ (140-60-60 NPK) kg/ha

یو اپشن یې بشپړ کنټرول(absolute control) وو چې هیڅ کومې کیمیاوي سرئ پکښې استعمال سوې نه وې . ټریټمینټونه په RCBD ډیزاین کې ترتیب سوي وه ترڅو د Triplucate په پایله کې خنثی یا خالص نتایج په لاس راسي.

**د څېړني پایلي**

ترلاسه سوو پایلو د غنمو پر حاصلاتو د منرالي تغذیې(NPK) د مختلفو کچو اغېزه ښودلې ده. د غنمو د حاصل اعظمي کچه د ودې او نمو تر دغه ډول شرایطو لاندي په $T_9$ وریانټ کې چې N140 P60 K 60 ترکیب وربانديې تطبیق سوی وو په لاس راغلې ده. دغه حاصل د کنټرول وریانټ (چیرې چې سرې نه وې استعمال سوې) په پرتله %55 زیاتوالی ښیي.

**کلیدي کلمې:** منرالي سرې، NPK، د غنمو Chont 01 ورایټي، د حاصلخیزي کچه او نیمه وچې ساحې

**خلص سپارښتنې**

ددې څېړنه په پایله کې معلومه شوه چې د NPK د ترټولو عالي کچې استعمال (-140-60 60 kg/ha) د غنمو په حاصلاتو کې تر څلور ټن پر هکتار پورې د زیاتوالي لامل ګرځي کوم چې په هیواد کې تر اوسط کچې حاصلاتو دوه برابره زیاتوالی ښیي. دا موندنې د غنمو د حاصلاتو په زیاتوالي(لوړوالي) کې د NPK سرې مهم رول په ګوته کوي.

په لنډه توګه، د مهمو عناصرو مدیریت، په ځانګړې توګه د NPK د (140-60-60 kg/ha) استعمال د غنمو د عالي او غوره حاصل د لاسته راوړلو لپاره ډېر مهم دی. د دغه موندنو په نظر کې نیولو سره بزګران کولی سي چې د سرو په اړه باخبره پرېکړې وکړي، هغه څه چې د دوی د غنمو د حاصلاتو په لوړولو کې مهم رول لري او د تطبیق سپارښتنه یې کیږي.

# د سپيني لوبيا په وده، حاصل او عايداتو باندی د نايتروجن او فاسفورس د بيلا بيلو اندازو د استعمال اغيزې معلومول

څېړونکی: پوهنيار وکيل احمد سيرت

د څېړونکي ايمېل ادرس: wakilahmadseerat@yahoo.com

**لنډيز**

يوه ساحوي څېړنه په 2020م کال کې د اناستو پوهنتون په څېړنيز فارم کې ترسره شوې تر څو د سپينې لوبيا پر وده، حاصل او عايداتو باندې د نايتروجن او فاسفورس سرو د مختلفو اندازو اغېزې مطالعه او مناسبه اندازه پيدا کړل سي. ياده څېړنه په Randomized Complete Block Design او دريو تکرارونو کې ترسره شوې ده. په دې څېړنه کې ټولټال (16) يو ځای شوي ټريټمينټونه په نظر کې نيول شوي وو چې د ټولو کوردانو شمېر يې ۴۸ کېږي، چې په ترتيب سره څلور د نايتروجن (0, 20, 30 and 40 kg/ha) او څلور د فاسفورس (0, 30, 60 and 90 kg/ha) مختلفې اندازې استعمال شوې وې،د يادې ساحې خاوره د Sandy Clay loam ټکسچري ټولګی، لوړ pH (8.4) درلودونکې او د برقي هدايت توان ($0.520\ dS\ m^{-1}$) وه، تر څنګ يې عضوي کاربن (0.43%) او همدارنګه د عضوي موادو اندازه يې (0.74%) ، په خاوره کې فعاله نايتروجن( 87.8 kg/ha، فاسفورس (9.6 kg/ha) او پوتاشيم (180.1 kg /ha ) شتون درلود.

د څېړنو پايلو وښودله چې د 30 kg/ha نايتروجن او 60 kg/ha فاسفورس استعمال د نبات په قد، د پاڼو په شمېر، وچو موادو وزن او په شاخصونو باندې ( CGR، RGR او NAR) د کنټرول او نورو ټريټمينټونو په نسبت ښه پايله درلودله، تر څنګ يې د سپينې لوبيا د حاصل پارامترونه لکه په نبات کې د پليو شمېر، په پلي کې د دانو شمېر، د پلي اوږدوالی، په ګرام سره د زرو دانو وزن او همدارنګه د دانې او پروړ حاصل يې د $30\ kg\ ha^{-1}$ نايتروجن او $60\ kg\ ha^{-1}$ فاسفورس په استعمال سره د اهميت وړ زياتوالی درلود، په ورته وخت کې تر ټولو زياته ناخالصه ګټه په ترتيب سره ($283000\ AFN\ ha^{-1}$) او ($281000\ AFN\ ha^{-1}$)، خالصه ګټه ($245000\ AFN\ ha^{-1}$) او ($244000\ AFN\ ha^{-1}$)، د عايداتو او لګښتونو نسبت د 30 kg/ha نايتروجن او 60 kg/ha فاسفورس په

استعمال سره ترلاسه شوی وو، چې د نورو ټریټمینټونو په پرتله یې تر ټولو ښه پایله درلودله، همدارنګه د نایتروجن او فاسفورس د مختلفو اندازو په کارولو سره د نایتروحن مناسبه اقتصادي اندازه 50.7 kg/ha او د فاسفورس مناسبه اقتصادي اندازه 36.8 kg/ha لاسته راغلي وو. چې د کندهار ولایت اناستو په ځېړنیز فارم ریګي لوم خاوره کې $30\ kg\ ha^{-1}$ نایتروجن او 60 kg/ha فاسفورس ګډ استعمال د سپیني لوبیا په وده، حاصل او عایداتو په زیاتوالی باندې synergistic مثبته اغېزه درلوده.

**خلص سپارښتنې**

1. د څېړنو د پایلو په اساس د نایتروجن او فاسفورس د مختلفو اندازو په استعمال سره د نبات د ښې ودې او حاصل لاس ته راوړلو لپاره تر ټولو بهترین مقدار 30 kg/ha نایتروجن او 60 kg/ha فاسفورس په یو هکتار کې سپارښتنه کېږي.

2. په سپینه لوبیا باندې د نایتروجن مختلفو اندازو په کارولو سره د نایتروجن مناسب اقتصادي ډوز 36.8 kg او د فاسفورس 50.7 kg په یو هکتار کې اټکل شوی دی او د سرو قیمتونو د لوړوالي په اساس یې د استعمال سپارښتنه کیږي.

3. همدارنګه $N_{30}P_{60}$ کمباین ټریټمینټ په Sandy Clay loam خاوره کې د نبات په تولید او عایداتو باندې د نایتروجن او فاسفورس مختلفو اندازو استعمال یو پر بل باندې د پام وړ مثبت عکس العمل (Synergistic) اغیزه درلوده.

4. په کندهار ولایت کې د یاد نبات د کرلو تر ټولو بهترین وخت د حمل میاشتې له ۲۵ نیټې څخه بیا د ثور د میاشتې تر ۱۰ نیټې پورې دی.

# د ماش (.Vigna radiata L) NM-94 ورایټي پر وده او حاصل باندې د نایتروجن د بېلا بیلو اندازو د استعمال اغېزې

څېړونکی: پوهنمل حمدالله حمیم

د څېړونکي ایمیل ادرس: Hamdullah.hamim@gmil.com

**لنډیز**

دا څېړنه په 1398 ل. کال د افغانستان د کرنیزو علومو اوتکنالوژی ملی پوهنتون د څېړنیز فارم په ساحه کې د "ماش (.Vigna radiata L) د NM-94 ورایټۍ پر وده او حاصل باندې د نایتروجن د بېلا بیلو اندازو اغېزې" تر سرلیک لاندې شروع او د 1398 ل. کال د اسد پر 20 نېټه سرته ورسېده. څېړنه د (CRBD) په ډیزاین کښې ترتیب سوې وه، چې د (NM-94) ورایټۍ 7 د نایتروجن بېلابېلي اندازې (0,15,30,45, 60,75 and 90 Kg/ha) 7 فلاټه او درې تکراره درلوده. د ماش (NM-94) ورایټۍ 35 کیلو گرامه پر هکتار تخم کرل سوی او د نباتاتو د ودې په بېلابېلو وختونو کښې د نباتاتو دودې، حاصل ورکوونکو لاملونو او حاصلاتو ارقام راټول سوي دي.

د ماش نبا ت (NM-94) ورایټۍ د نباتاتو جگوالی، په یونبات کې د پا ڼه سطحه ، د نبات پاڼې دسطحه شاخص ، په یو نبات کې د پاڼو شمېر، د فرعي ښاخچو شمېر او د پلي اوږدوالی، همدا شان د حاصل ورکوونکي لاملونه او حاصلات لکه د پلیو شمېر پر نبات، د پلي اوږدوالی، په پلي کښې د تخمونو شمېر، د تخمونو وزن پر نبات، د 1000 دانو تخمونو وزن، د تخمونو شمېر پر نبات، حاصلات ($1630\ Kg\ ha^{-1}$) کیلو گرام پر هکتار ، پروړ ($4453\ Kg\ ha^{-1}$) کیلو گرام پر هکتار او بیولوژیکی حاصل ($6000\ Kg\ ha^{-1}$) کیلوگرام پر هکتار ټوله عایدات ($146743\ AFN\ ha^{-1}$ افغانۍ پر هکتار)، خالص عاید($115216\ AFN\ ha^{-1}$ افغانۍ پر هکتار) هم زیات شویدي په یو هکتار تر 45 کیلوگرامه نایتروجن في هکتار سره علاوه کولو سره په نسبت د کنټرول او 15 کیلوگرامه پلاټ سره زیات شول.

په پایله کښې د ماش (NM-94) ورایټي او 45 کیلو گرامه نایترجن پر هکتار په علاوه کولو سره د ماش نباتاتو پر وده، حاصلاتو، د استعمال سوو زیرو پر وړتیا او اقتصادي گټې زیاتوالی لیدل شوی وو او دغې اصلاح سوي (NM-94) ورایټۍ د کندهار په آب او هوا کښې ښه نتیجه ورکړې وه.

**خلص سپارښتنې**

د دغې څېړنې د موندنو په بنسټ د ماشو د کروندې په یو هکتار کې د 45 کیلو گرام نایتروجن استعمال له امله د ماشو د دانې، پروړې او بیولوژیکي حاصل لوړه اندازه تر لاسه شوې او همدارنگه په یو هکتار کې د 45 کیلو گرام نایتروجن په استعمال سره لوړه اندازه ټول عاید، خالص عاید او د لگښت او گټې نسبت رامنځته شوی دی. نو لدې امله په کندهار ولایت کې د ماشو د ښې ودې، زیات حاصل او زیاتې گټې ترلاسه کولو لپاره د ماشو په یو هکتار کرونده کې د 45 کیلو گرام نایتروجن د استعمال سپارښتنه کیږي.

# د ماش (Vigna radiata L.) NM-94 ورایټي پر وده او حاصل باندې د پوتاشیم د بیلابیلو اندازو داستعمال اغېزې

څېړونکی: پوهنمل حمدالله حمیم

د څېړونکي ایمېل ادرس: Hamdullah.hamim@gmil.com

**لنډیز**

د کروندې څېړنه د افغانستان کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون په څېړنیز فارم کې ترسره سوې ده تر څو د ماشو پر وده او حاصل باندې د پوتاشیمي سرو بیلابیلو اندازو ( ۰، ۲۰، ۴۰، ۶۰، ۸۰ او ۱۲۰ کیلو گرام $K_2O$ پر هکتار) اغیزې وڅېړي. د څېړنې طرح Randomized Complete Block Design (RCBD) ټاکل سوې وه، چې په دریو تکرارونو کې په Sandy-clay loam soil خاوره کې ترسره سوه. پایلې وښوده چې د ماشو د ودې پارامترونو او حاصل (۱.۵۲ ټن پر هکتار کې) کې د ۸۰ کیلو گرام په هکتار کې د $K_2O$ استعمال سره په

څېړنه کې د نورو $K_2O$ شته ټریټمنټونو په نسبت د پاملرنې وړ زیاتوالی راغلی وو. نو فلهذا د $K_2O$ استعمال په هکتار کې د ۸۰ کیلو ګرام په اندازه سره وړاندیز کېږي تر څو د هیواد په نیمه وچو سیمو کې د ماشو ښه وده او لوړ حاصل ترلاسه سوی وي.

**خلص سپارښتنې**

په ټوله ایزه توګه، د $K_2O$ استعمال د ۸۰ کیلو ګرام په هکتار استعمال د ماشو د ښې ودې او پراختیا او همدارنګه لوړ تولید لپاره د افغانستان په نیمه وچو سمیو کې یې سپارښتنه کېږي.

## د جوارو پر حاصل باندې د نایتروجن، فاسفورس او عضوي FYM سرو اغېزې


څېړونکی: پوهنوال نصیراحمد نصرت

د څېړونکي اېمېل ادرس: **n.a.nasrat@mail.com**


**لنډیز**


دا علمي څېړنه چې د کندهارپوهنتون کرهنې پوهنځی په څېړنیز فارم کې د جوارو نبات پر حاصل باندېد N/P او عضوي (FYM) سرو اغیزې ترعنوان لاندې په 1394کال کې تر سره شوې ده. نوموړې علمي څېړنه د حاصل او حاصل دځانګړتیاوو د مختلفو پارامترونو درلودونکې ده، چې په دې برخه کې په نبات کې د وږو شمېر، په وږي کې د دانو او قطارونو شمېر، په یوه قطار کې د دانو شمېر، د 1000 دانو وزن او همدارنګه د دانو حاصل، د ټانټو حاصل ، مجموعي حاصل، د حاصل انډیکس، مصارفو او عایداتو په برخه کې د عضوي او غیر عضوي سرو د مختلفو اندازو څخه په یوځایي توګه ګټه اخستل شوې ده. د غیر عضوي سرو له ډلې څخه یوریا د 70او 140 کیلوګرامه په هکتار کې، د فاسفورسي سرو له ډلې څخه $P_2O_5$ له 40 او 80 کیلوګرامه په هکتار کې او عضوي Farm Yard Manure (FYM) سرې 5 او 10 ټنه په هکتار کې دکنترول په شمول په 8 ټریټمنټونو او 3 تکرارونو کې ازمایل شوې وې. ډیزاین یې د تصادفي مکمل بلاک Randomized Completely Block Design (RCBD) په نظر کې نیول شوی وو. د حاصل او د حاصل په ځانګړتیاوو کې د آتو ټریټمنټونو په منځ کې $T_8$ ټریټمنټ د نورو ټولو پلاټونو په پرتله د عضوي سرې د 10 ټنه په هکتار ورسره مل (-140

80 kg NP/ha) د کنترول په پرتله لوړ تولید ورکړی وو، او تر ټولو ټریټمنټونو ټیټ تولید په کنترول پلاټ کې ولیدل شو. خو د احصائیوي تحلیل او CD د مقایسې په اساس د نوموړیو ذکر شویو ټریټمنټو په منځ کې $T_6$ ټریټمنټ چې د عضوي او غیرعضوي سرو یوځای ترکیب یې (140 – 80 kg NP/ha) او 5 ټنه FYM په یوهکتار کې استعمال شوی وو په څرګنده توګه ترنورو غوره وګڼل شو. د همدې علمي څېړنې څخه دا نتیجه څرګندیږي چې د 140 کیلوګرامه نایتروجن ، 80 کیلو ګرامه فاسفورس او 5 ton FYM په یوه هکتار باندې د استعمال په پایله کې د جوارو نبات د حاصل د ځانګړتیاوو او د حاصل د مصارفو او عوایدو په پارامترونو باندې د پام وړ اغېزه کړې ده او د افغانستان د جنوب غرب حوزې د کندهار ولایت د شرایطو او اب هوا په نظر کې نیولو سره دا سپارښتنه کیږي، چې د عضوي او غیر عضوي سرو ذکر شوی یو ځای ترکیب (140 – 80 kg NP/ha) او 5 ټنه FYM په یوهکتارکې د دوه رګه جوارو د حاصل د زیاتوالی او اقتصادي عوایدو د ډیروالی سبب کیږي.

**کلیدي کلمې :** جوار، حاصل، عضوي او غیرعضوي سرې.

## سپارښتنې

د افغانسـتان د جنوب غرب حوزې د کندهار ولایت د شرایطو او آب هوا په نظر کې نیولو سره دا ســپارښــتنه کیږي چې د عضــوي او غیري عضــوي سرو یو ځای ترکیب (140 کیلوګرامه نایتروجن، 80 کیلوګرامه فاســفورس او 5 ټنه FYM) په یوهکتار کې د دوه رګه جوارو د حاصل د زیاتوالي او اقتصادي عوایدو د ډیروالي سبب کیږي.

# د جوارو پر وده باندې د نایتروجن، فاسفورس او عضوي FYM سرو اغېزې

ځېړونکی: پوهنوال نصیراحمد نصرت

د څېړونکي ایمېل ادرس: **n.a.nasrat@mail.com**

**لنډيز**

د جوارو پر وده باندې د N/P او عضوي FYM سرو اغیزې تر عنوان لاندې دا علمي څېړنه چې د کندهارپوهنتون کرهنې پوهنځی په څېړنیز فارم کې په 1394کال کې تر سره شوې ده. نوموړې علمي څېړنه د ودې د مختلفو پارامترو درلودونکې ده، د ودې پارامترونه يې د نبات جګوالی، دشنوپاڼوشمېر، د پاڼې د سطحې انډيکس او د وچو موادو د اندازې په برخه کې د عضوي او غیر عضوي سرو د مختلفو اندازو څخه په یوځایي توګه ګټه اخستل شوې ده. د غیر عضوي سرو له ډلې څخه یوریا د 70او 140 کیلوګرامه په هکتار کې، د فاسفورسي سرو له ډلې څخه $P_2O_5$ له 40 او 80 کیلوګرامه په هکتار کې او عضوي Farm Yard Manure (FYM) سرې 5 او 10 ټنه په هکتار کې دکنترول په شمول په 8 ټریټمنټونو او 3 تکرارونو کې ازمایل شوې وې. ډیزاین یې د تصادفي مکمل بلاک Randomized Completely Block Design (RCBD) په نظر کې نیول شوی وو. وده او د ودې ځانګړتیاوو کې د آتو ټریټمنټونو په منځ کې $T_8$ ټریټمنټ د نورو ټولو پلاټونو په پرتله دعضوي سرې د 10 ټنه په هکتار ورسره مل (140-80 kg NP/ha) د کنترول په پرتله لوړ تولید ورکړی وو، او تر ټولو ټریټمنټو ټيټ تولید په کنترول پلاټ کې ولیدل شو. خو د احصائیوی تحلیل او CD د مقایسې په اساس د نوموړیو ذکر شویو ټریټمنټو په منځ کې $T_6$ ټریټمنټ چې د عضوي او غیرعضوي سرو یوځای ترکیب يې (140 – 80 kg NP/ha) او 5 ټنه FYM په یوهکتار کې استعمال شوی وو په څرګنده توګه تر نورو غوره وګڼل شو. د همدې علمي څېړنې څخه دا نتیجه څرګندیږي چې د 140 کیلوګرامه نایتروجن ، 80 کیلو ګرامه فاسفورس او 5 t FYM په یوه هکتار باندې د استعمال سره د جوارو نبات د ودې په پارامترونو باندې د پام وړ اغېزه کړې ده، او د افغانستان د جنوب غرب حوزې د کندهار ولایت د شرایطو او آب هوا په نظر کې نیولو سره دا سپارښتنه کیږي، چې د عضوي او غیر عضوي سرو ذکر شوي یو ځای ترکیب (140 – 80 kg NP/ha) او 5 ټنه FYM په یوهکتار کې د دوه رګه جوارو د ودې د ډیروالی سبب کیږي.

**کلیدي کلمې**: وده، جوار، نایتروجن، فاسفورس، عضوي سرې.

**سپارښتني**

د افغانستان د جنوب غرب حوزې د کندهار ولایت د شرایطو او آب هوا په نظر کې نیولو سره دا سپارښتنه کیږي چې د عضوي او غیري عضوي سرو یو ځای ترکیب (140 کیلوگرامه نایتروجن، 80 کیلوگرامه فاسفورس او 5 ټنه FYM) په یوهکتار کې د دوه رگه جوارو د په وده او د ودې په پارامترونو کې د پام وړ زیاتوالی راولي، او بزگران کولای شي چې د همدې ترکیب څخه په گټه اخیستنې د لوړو حاصلاتو او عایداتو ترلاسه کولو ته لاره هواره کړي.

# د کرنیزو نباتاتو د حاصلخیزی لپاره د خاورې نمونه اخیستل

څېړونکی: پوهنوال نصیراحمد نصرت

د څېړونکي ایمېل ادرس: n.a.nasrat@mail.com

**لنډیز**

د خاورې د تجزیې څخه دې په زړه پورې نتیجې د لاسته راوړلو لپاره د باور وړ د خاورې د نمونې اخیستل دي. د خاورې نمونه باید د نمونې اخیستلو ساحې څخه په پوره توگه نمایندگي وکړای شي، د خاورې نمونه باید د ساحې څخه په سم وخت او علمي لارو چارو راټوله شي. هغه عوامل چې د خاورې د نمونې په کیفیت باندې د لیدو وړ اغېزه کوي عبارت دي له (د نمونې راټولولو ساحه، کاریدونکي سامان آلات، د نمونې ژوروالی، د نمونې یوشان والی ، د نمونې د راټولولو معلومات او د نمونې آماده کول). د خاورې څخه د نمونې اخیستل د خاورې د تجزیې لپاره لومړی او مهمه مرحله ده، دا ډیره مهمه او ضروري ده چې په دې باندې ځان ډاده کړو چې زمونږ اخیستل شوي دخاورې نمونه چې لابراتوار ته استول کیږي، د اړوندې ټولې ساحې نمایندگي کوي او که نه. دا باید په یاد ولرو چې په لابراتوار کې د خاورې خواصو د تجزیې لپاره ډیره کمه اندازه د خاورې نمونه پکاریږي. د خاورې نمونه او د هغې تجزیه دا زمینه برابروي، تر څو د خاورې دحاصل ورکولو توان معلوم شي، ترڅو د نباتاتو د ضرورت په اندازه غذایي عناصر د نباتاتو د ودې لپاره علاوه شي، د خاورې د تجزیې د نتجې په اساس دا په ډاگه کیږي، چې د ضرورت وړ معیاري ارقام د اضافي غذایي عناصرو د علاوه

کولو څخه د مخنیوي په موخه معلوم شي تر څو د عنعنوي یا رواجي لارو په پرتله د نباتاتو څخه په زړه پورې تولید لاسته راوړل شي. د خاورې د نمونې اخستلو څخه هدف داده چې په ساحه کې د غذایي ضروري عناصرو د ضرورت مناسبه اندازه په څرګنده توګه معلومه شي، نو په دې توګه دا به یوه ځانګړې او په زړه پورې دعلاوه کولو تګلاره وي .

**کلیدي کلمې:** خاوره، خواص، حاصلخیزي، نمونه اخستل

**خلص سپارښتنې**

د خاورې د یوې همه شموله او په زړه پورې نمونې اخیستلو لپاره لاندې سپارښتنې لرم .

1. تر هر څه دمخه باید د خاورو د نمونو اخیستلو ځایونه چې تر ممکنې اندازې د ټولې سیمې د خاورو نمایندګي وکړي انتخاب شي. که چیري سیمه ډیره لویه وي نو باید د هغې څخه د یوې پر ځای څو نمونې واخیستل شي.
2. وروسته تر هغه چې د نمونې ځای وټاکل شو نو باید د ځمکي د مخ واښه، نباتي او حیواني پاتې شوني د خاورې له سر څخه لیرې شي.
3. د خاورې نمونې باید د مناسبو سامانونو په وسیله واخیستل شي تر څو د هرې برخې خاوره په نمونه کې شامله شي.
4. نمونې باید په یو پاک کاغذي کارتن یا کڅوړه کې واچول شي او په نښه شي د نښه کولو په وخت کې باید د پټي پوره خصوصیات، د موقیعت څرګندونه د نمونې اخیستلو نېټه او ... ولیکل شي او پر هرې نمونې بیله بیله نمره ووهل شي.
5. د احاطو یا کټارو د نژدې شاوخوا، د لښتیو او ویالو د غاړو د پلوانونو اړخونو او د ځمکې د ښکتنیو برخو څخه باید نمونه وا نه خیستل شي همدارنګه هغه ځایونه چې د حیواناتو فاضله مواد پکې راټول شوي وي د نمونې اخیستلو لپاره مناسب نه ګڼل کیږي.
6. دولت باید د خاورې پیژندنې، او حاصلخیزی معلومولو لابراتواري مرکزونه په هر ولایت کې جوړ کړي .

# اثرات کاربن دای اکساید افزوده شده (Elevated CO2) بر نموی نهالهای شالی

محقق: محمد صادق صالحي

ایمیل ادرس محقق: salihimohammadsadiq38@gamil.com

**خلاصه**

برنج یکی از اعضـــای بســـیار مهم فامیل گندمیان ( *Poaceae* ) میباشــد، برنج همچنان از زمانهای قدیم به حیث غذا توســط ملیت های مختلف به خصــوص در کشــورهای آســیایی مورد اســتفاده قرار گرفته اســت. تغیرات اقلیمی فعلي و افزایش غلظت کاربن دای اکسـاید در اتموســـفیر بر فعالیت گیاهان اثرات متفاوتی را در ســـطح جهان بر جا گذاشـــته اســـت. از آنجائیکه کاربن دای اکســاید یکی از عوامل محدود کننده فوتو ســنتیز میباشــد، افزایش این گاز میتواند فعالیت Carboxylation را زیاد نموده، تولید وحاصـــل را نیز افزایش دهد. تحقیق حاضر برای اینکه اثرات کاربن دای اکســـاید افزوده شـــده [Elevated $CO_2$ ($eCO_2$)] را بر نموی نهالهای شالي ورايتی های MR219 و Sri Malaysia1 را بررسی نماید، صـورت گرفته اسـت. در این تحقیق یک روش جدید مورد اسـتفاده قرار گرفته اسـت، چنانچه نهالهای برنج تحت غلظت بلند کاربن دای اکســـاید تنها در جریان نموی روشـــی ابتدایی انکشـاف نمودند، قبل از اینکه در سـاحه اصـلی انتقال یابند. منبع کاربن دای اکسـاید برای $eCO_2$ از تخمر خمیر مایه و شکر تولید گردیده و غلظت آن ٦٠٠-٨٠٠ مایکرو مول بر مول آماده گردیـد. برای تریتمنت [Ambient $CO_2$ ($aCO_2$)] غلظت کـاربن دای اکســـاید ۴۱۰-۴۱۵ مایکرو مول بر مول وهمچنان برای کنترول شرایط مزرعه در نظر گرفته شـــده بود. نهالهای شـــالي در طرح Nested با ۱۵ تکرار برای ۴ هفته تحت نور Light-emitting diode (LED) در Growth Chamber پرورش یافتند در حالیکه نهالهای کنترول در مزرعه پرورش یافتند. نتایج نشـــان داد که پارامتر های برگ نهالهای شـــالي مانند طول، تعداد و سطح برگ در شرایط $eCO_2$ در مقایسه با کنترول به ترتیب ۹.۲۰٪، ۱۰.۲۸٪ و ۲۵.٦٧٪ افزایش یافتند. همچنان پارامتر های نمويي مانند قد نهال و وزن خشـک نهال هم تحت شرایط $eCO_2$ در مقایسه با به کنترول به ترتیب ۱۸.۲۵٪ و ۳۴.۲۱ ٪ افزایش معنی دار بدست آمد.

**سفارشات**

تریتمنت $eCO_2$ میتواند نهالهای قوی شـده شـالی را تولید نماید، همچنان قابل یاد آوری اسـت که این تریتمنت باعث کوتاه شـدن مدت پرورش نهالهای شـالی در قوریه شـده که در نتیجه نهالها برای انتقال به مزرعه زودتر آماده میشـوند لذا اسـتفاده از روش فوق برای تولید نهالهای شـالی، نه تنها نموی شالی را در مزرعه افزایش خواهد یافت، بلکه افزایش حاصلات برنج را نیز در پی خواهد داشت.

## اثرات هیومیک اسید بر انکشاف نموی گندم

محقق: محمد صادق صالحي

ایمیل ادرس محقیق: salihimohammadsadiq38@gamil.com

**خلاصه**

گندم یکي از اعضـای مهم فامیل گندمیان (*Poaceae*) و عضـو بسـیار مهم غله جات در سـطح جهان بوده و ۲۰ ٪ از انرژی مورد نیاز کتله بزرگ نفوس جهان رابر آورده میسـازد. هیومیک اسـید بخشـی از هیومس در مواد عضـوی خاک اسـت که توسـط تجزیه فزیکي، کیمیاوی و مایکروبیولوژیکی بایومالیکول ها تولید میشـود. تولید گندم در جهان اکنون ٦۴۲ میلیون تن میباشـد و پیش بینی میشـود که تقاضـای گندم در سـال ۲۰۵۰ به ۸۴۰ میلیون تن افزایش یابد. از طرفی نفوس در کشورهای که از گندم منحیث غذای اصلی تغذیه میکنند به سرعت رو به افزایش اسـت، لذا، اکنون تولیدات گندم تقاضـای نفوس روز افزون جهان را برطرف نمی تواند. طبق گزارشات، استفاده از هیومیک اسید نه تنها باعث انکشاف نموی نباتات شـده، بلکه اسـتفاده همزمان از هیومیک اسـید و کود های کیمیاوی مصـارف کود کیمیاوی را ۵۰ ٪ کاهش میدهد. اثرات هیومیک اسـید بر رشـد گندم قبلاً مورد بررسـی قرار گرفته است، اما انکشاف نموی گندم با استعمال همزمان هیومیک اسید و کود کیمیاوی نیاز به تحقیقات گسـترده تری را تقاضـا مینماید. لذا تحقیق حاضر به هدف مطالعه اثرات همزمان کود کیمیاوی و هیومیک اسـید بر انکشـاف نموی گندم در سـال ۱۴۰۳-۱۴۰۲ در

قندهار صورت گرفته است. نتایج این تحقیق نشان داد که استفاده همزمان از کود کیمیاوی و هیومیک اسید ارتفاع گندم، وزن تازه نبات، طول ریشه و وزن تازه ریشه را به صورت معنی دار به ترتیب ٪۶.۰۹،٪۲۳.۴، ٪۳۷.۵۰ و ٪۳۰.۳۰ افزایش داد.

۱: استعمال همزمان کود کیمیاوی وهیومیک اسید نه تنها نموی گندم را انکشاف میدهد، بلکه مقدار و مصارف کود کیمیاوی را کاهش میدهد.

## د ارزګان په اګرو-ایکالوژیکي شرایطو کې د جوارو پر وده او حاصلاتو باندې د فاسفورس تاثیرات

څېړونکی: پوهنیار رحمت الله نذیر

د څېړونکي اېمېل ادرس: nazir_rahmatullah@yahoo.com

### لنډیز

فاسفورس د نباتاتو په وده او تولید کې مهم رول ادا کوي، په همدې منظور یوه کرنېزه څېړنه چه عنوان یې (د ارزګان په اګرو- ایکالوژیکي شرایطو کې د جوارو پر وده او حاصلاتو باندې د فاسفورس تاثیرات) وو، ترسره شوېده. نوموړې څېړنه د ارزګان پوهنتون د کرنې پوهنځی په څېړنیز فارم کې په ۲۰۲۳ کال کې ترسره شوې ده، د څېړنې هدف د جوارو د ښې ودې او تولید په موخه د فاسفورس د مناسبې اندازې پیژندل وو. نوموړې څېړنه د RCBD ډیزاین په شکل ترسره شوې ده چې پکې د فاسفورس څلور مختلفې اندازې (20, 40, 60 او 80) کیلو ګرام $P_2O_5$ پر هکتار او یو کنټرول شامل وو.

د څېړنې نتیجه څرګندوي چې د فاسفورس استعمال د جوارو په وده او حاصل باندې مثبت تاثیر درلوده، د فاسفورس د اندازې زیاتوالي له ۲۰ کیلو ګرام څخه تر ۸۰ کیلو ګرام پورې د جوارو د ودې او حاصل په زیاتوالي کې د پام وړ مثبت تاثیر درلوده، د فاسفورس د مختلفو اندازو څخه د ۸۰ کیلو ګرام پر هکتار استعمال یې نسبت نورو اندازو ته غوره تاثیرات درلودل. په پای کې سپارښتنه کیږي چې د ارزګان په اقلیمي شرایطو کې د جوارو څخه د لوړو حاصلاتو د لاسته راوړلو په موخه ۸۰ کیلو ګرام $P_2O_5$ په هکتار استفاده شي.

# په بدخشان ولایت کې د جوارو په وده او تولید باندې د فاسفورس د مختلفو اندازو اغیزې

څېړونکی: پوهنیار رحمت الله نذیر
ایمېل ادرس: nazir_rahmatullah@yahoo.com

**لنډیز**

نوموړې څېړنه په بدخشـان ولایت کې د جوارو په وده او حاصـلاتو باندې د فاسـفورس د مختلفو اندازو د تاثیراتو د مطالعې په موخه په ۲۰۲۳ کال کې ترسره شـوېده. نوموړې څېړنه د RCBD ډیزاین په شـکل ترسره شـوېده، په څېړنه کې د فاسـفورس له مختلفو اندازه ( 0, 40, 80, 120, 160, 200 او 240) کیلو ګرام $P_2O_5$ پر هکتار څخه استفاده شوېده.

د څېړنې نتایج څرګندوي چې د فاسـفورس اسـتعمال د نبات پر وده، حاصـل په پارامترونو او حاصـلاتو باندې د پام وړ مثبت تاثیر درلوده، د فاسـفورس د مختلفو اندازو له منځه ۱٦۰ کیلو ګرام $P_2O_5$ پر هکتار اسـتعمال نسـبت کنترول ته تر ټولو غوره نتیجه ورکړې وه. د ۱٦۰ کیلو ګرام $P_2O_5$ پر هکتار د استعمال په صورت کې د نبات د قد لوړوالی (۱۸۱.۰۲ سانتي متر)، د پاڼې شـاخص (۲.۳۰)، د وږو شـمېر پر نبات (۲.۲۰)، د وږي اوږدوالی (۱۸.٦۳) سـانتي متره، د دانو شــمېر په یو وږي کې (۳۴۷.۳۳)، په یوه وږي کې د قطارونو شــمېر (۱۷.٦۷)، د ۱۰۰ دانو وزن (۲۰.۳۳ ګرام)، مجموعي د دانې حاصــل (۴۸۸۲ کیلو ګرام)، د پروړ مجموعي حاصــل (٦۹۴۳ کیلو ګرام) ورڅخه ترلاسه شوی وو چې نسبت کنترول ته یې مانادراه زیاتوالی درلوده. بناءً سپارښتنه کېږي، چې د هېواد په شمالي سیمو کې د جوارو څخه د غوره او ښو حاصلاتو د ترلاسه کولو په موخه ۱٦۰ کیلو ګرام $P_2O_5$ پر هکتار استعمال شي.

# د پلیو (Arachis hypgaea L) په دوه ورایټیو باندې د فاسفورس د مختلفو اندازو اغیزې

څېړونکی: پوهنیار رحمت الله نذیر

د څېړونکي اېمېل ادرس: nazir_rahmatullah@yahoo.com

**لنډیز:** دغه څېړنه د ۲۰۲۲ کال په پسرلي موسم کې د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون په څېړنیز فارم کې په لاره اچول شوې وه، په څېړنه کې دوه ورایټۍ (کورمکي او پاپړي) او څلور مختلفې اندازې د فاسفورس شاملې وې، په مجموعې ډول یې ۸ ترکیبي چلندونه رامنځته کړي وو، د څېړنې په موخه له Spit Plot ډېزاین څخه استفاده شوې وه. پر فاسفورس سربېره ۳۰ کیلو گرامه پر هکتار نایتروجني سره هم د کښت سره سمه استفاده شوې وه. په پای کې د څېړنې د ارقامو د تحلیل او تجزیې په موخه له IBM SPSS 24 څخه استفاده شوې ده.

**پایلې:** د څېړنې پایلې څرگندوي چې پاپړي ورایټۍ نسبت کورمکي ورایټۍ ته د ودې په شاخصونو کې غوره خصوصیات له ځانه ښودلي دي، همدارنگه پاپړي ورایټۍ نسبت کورمکي ورایټۍ ته د حاصل د شاخصونو په اساس هم غوره نتیجه ورکړېده، نوموړي شاخصونه عبارت دي له: د پلیو شمېر پر نبات، په پلي کې د دانو شمېر، د ۱۰۰-دانو وزن او د پوښ سلنه. په همدې ترتیب پاپړي ورایټۍ د دانې حاصل، د پروړو حاصل، بیولوژیکي حاصل، ناخالص عاید، خالص عاید او د عاید او مصرف ترمنځ نسبت ته په کتو هم پر کورمکي ورایټۍ بهتره وه. کورمکي ورایټۍ د آزادې هوا د نایتروجن په نصب کې پر کورمکي ورایټۍ بهتروالی درلوده. د فاسفورس د اندازو له منځه ۶۰ کیلو گرامه پر هکتار نسبت د فاسفورس نورو اندازو ته د ممپلیو په وده، د حاصل په شاخصونو، حاصلاتو، ناخالص او خالص عاید باندې د پام وړ مثبت تاثیر درلوده

د څېړنې د پایلو پر بنسټ سپارښتنه کوو چې د ممپلیو څخه د غوره حاصلاتو او عایداتو د لاسته راوړلو په موخه باید پاپړي ورایټي ترویج کړلی شي او د ښه حاصل په موخه به ۶۰ کیلو گرامه پر هکتار فاسفورس استعمال شي.

# د لوبیا (Phsasoulus vulgaris L) په وده او حاصل باندې د فاسفورس او تخم د مختلفو اندازو تاثیرات

څېړونکی: پوهنیار رحمت الله نذیر

د څېړونکي اېمېل ادرس : nazir_rahmatullah@yahoo.com

**لنډیز**

یوه کرنیزه څېړنه چې د کندز پوهنتون په تحقیقاتي فارم کې د لوبیا ( Phaseoulus vulgaris L) پر وده او حاصلاتو باندې د فاسفورس او د تخم د اندازې د تاثیراتو مطالعه وه په ۲۰۲۳ کال کې ترسره شوې ده. د څېړنې هدف د هیواد په شمال ختیځو سیمو کې د لوبیا څخه د لوړو حاصلاتو د ترلاسه کولو په موخه د فاسفورس او د تخم د مناسبې اندازې مشخص کول وو. نوموړې څېړنه د RCBD ډیزاین په شکل ترسره شوې وه چې چلندونه یې د فاسفورس له دریو مختلفو اندازو (۰ کیلو گرام P2O5 پر هکتار، ۴۰ کیلو گرام $P_2O_5$ پر هکتار او ۸۰ کیلو گرام P2O5 پر هکتار) او د تخم د څلورو مختلفو اندازو (۱۲۵ کیلو گرام پر هکتار، ۱۵۰ کیلو گرام پرهکتار، ۱۷۵ کیلو گرام پر هکتار او ۲۰۰ کیلو گرام پر هکتار) څخه تشکیل شوي وو.

د څېړنې له نتایجو څخه څرگندیږي چې د تخم او فاسفورس مختلفو اندازو د لوبیا پر وده، د حاصل په پارامترونو او همدارنگه حاصلاتو باندې د پام وړ تاثیر درلوده، د ۸۰ کیلو گرام $P_2O_5$ پر هکتار استعمال نسبت د فاسفورس نورو اندازو ته د نبات د ودې په پارامترونو (د نبات قد، د پاڼې شاخص، د څانگو شمېر پر نبات، د ریښو وچ وزن پر نبات، د ناډیولونو شمېر پر نبات، د پاڼو شمېر پر نبات) باندې د پام وړ مثبت تاثیر کړی وو، همدارنگه د حاصل پارامترونه او مجموعي حاصل هم د ۸۰ کیلو گرام $P_2O_5$ پر هکتار استفادې سره لوړ شوي ول. د تخم د مختلفو اندازو له جملې څخه ۲۰۰ کیلو گرام پر هکتار استعمال نظر نورو ټولو اندازو ته د حاصل په پارامترونو او حاصلاتو باندې مثبت تاثیر درلوده. په پای کې سپارښتنه کېږي چې د هیواد په شمال ختیځو سیمو کې د لوبیا څخه د غوره حاصلاو د لاسته راوړلو په موخه ۸۰ کیلو گرام $P_2O_5$ پر هکتار او ۲۰۰ کیلو گرام تخم پر هکتار څخه دې استفاده وشي.

# په کندهار کې د رومي بانجانو د کیلاش ورایټي پر وده او حاصل د نایتروجن او د بوټو تر منځ د فاصلو اغېزې

څېړونکی: رحیم الله همت خواه

د څېړونکي اېمېل ادرس: **Rahimh21@gmail.com**

**لنډیز**

رومي بانجان (.Solanum lycopersicon L) له مهمو سبو څخه دي چې د خوړلو لپاره په تازه او پروسس سوي شکل استعمالیږي او د غذایي ارزښت ترڅنګ اقتصادي ارزښت هم لري. رومي بانجان د ودې او حاصل لپاره د نایتروجن استعمال او بوټو تر منځ د فاصلو مناسبې اندازې ته اړتیا لري نو ځکه دا څېړنه (په کندهار کې د رومي بانجانو د کیلاش ورایټي پر وده او حاصل د نایتروجن او د بوټو تر منځ د فاصلو اغېزې) تر عنوان لاندي ترسره سوه تر څو د رومي بانجانو پر وده او حاصل باندې د نایتروجن او د بوټو تر منځ د مختلفو فاصلو اغېزې معلومې کړل سي. دا څېړنه په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د کندهار ولایت د عینو مېنې په فارم کې ترسره سوه. نوموړې څېړنه د RCBD په ډیزاین کې ترتیب سوې وه چې دولس (۱۲) چلندونه او درې (۳) تکراره ئې درلودل. په څېړنه کې پر هکتار باندې د نایتروجن اندازې عبارت وې له صفر، ۶۰، ۱۰۰ او ۱۵۰ کیلوګرام، د بوټو تر منځ فاصلې ۳۰، ۴۰ او ۵۰ سانتي متر، او د قطارونو تر منځ فاصله ثابته (۶۰ سانتي متر) وه. د رومي بانجانو د ودې په بېلابېلو وختونو کې د بوټو د جګوالي، د ښاخونو شمېر، د پاڼو شمېر، د پاڼو اوږدوالی، د مېوې اوږدوالی، د مېوې قطر، د مېوې وزن او پر هکتار د حاصلاتو ارقام راټول او تر تجزیه کېدو (Data analysis) وروسته جدول بندي او ترتیب سوي دي.

په همدې څېړنه کې د رومي بانجان د کرلو شپېته (۶۰) ورځې وروسته او حاصل اخیستنې په وخت کې د رومي بانجانو د ودې او حاصل پر پارامترونو باندې د نایتروجن د مختلفو اندازو او بوټو تر منځ د مختلفو فاصلو د اغېزو تر منځ په احصائیوي توګه توپیر شتون درلود. د بوټو زیات جګوالی (۸۸.۰۳ او ۱۰۳.۴۰ سانتي متر) په ترتیب سره د کرلو شپېته (۶۰) ورځې وروسته او حاصل اخیستنې په وخت کې په هغه پلاټونو کې موجود وو چې د بوټو تر منځ ئې فاصله دېرش (۳۰) سانتي متر او پر هکتار ۱۵۰ کیلوګرام نایتروجن ورباندې استعمال سوی وو، او هغه پلاټونه چې نایتروجن نه وو استعمال سوی او د بوټو تر منځ ئې فاصله ۵۰ سانتي متر وه، د بوټو جګوالی

ئې تر ټولو کم (۵۵.۴۱ سانتي متر د کرلو شپېته (۶۰) ورځې وروسته او ۷۰.۰۵ سانتي متر د حاصل اخیستنې په وخت کې) وو. له بلې خوا د ښاخونو او پاڼو زیات شمېر او د پاڼو زیات اوږدوالی د هغه پلاټونو په بوټو کې موجود وو چې د بوټو تر منځ ئې فاصله ۵۰ سانتي متر او پر هکتار ۱۵۰ کیلوگرام نایتروجن وربانديږ استعمال سوی وو. همدارنگه د مېوې زیات اوږدوالی (۶.۳۸ سانتي متر)، زیات قطر (۵.۱۷ سانتي متر) او زیات وزن (۱۲۸.۵۰ گرام) په هغه رومي بانجانو کې موجود وو چې د بوټو تر منځ ئې فاصله ۵۰ سانتي متر او پر هکتار ۱۵۰ کیلوگرام نایتروجن وربانديږ استعمال سوی وو، نوموړي ذکر سوي پارامترونه په کنټرول پلاټ کې چې د بوټو تر منځ يې فاصله دېرش (۳۰) سانتي متر وه، تر ټولو کم وو. همدارنگه زیات حاصلات (۳۹.۲۸ ټنه پر هکتار) په هغه پلاټونو کې ترلاسه سول چې د بوټو تر منځ ئې فاصله دېرش (۳۰) سانتي متر او د نایتروجن اندازه ئې پر هکتار ۱۵۰ کیلوگرام وه. په پایله کې ویلای سو چې د بوټو تر منځ ۵۰ سانتي متر فاصله او پر هکتار د ۱۵۰ کیلوگرام نایتروجن د استعمال په پایله کې د رومي بانجان د ښې ودې، د مېوې د جسامت د غټوالي او مېوې د وزن د زیاتیدو سبب وگرځېد. خو تر ټولو زیات حاصلات په هغه پلاټونو کې ترلاسه سول چې د بوټو تر منځ يې فاصله دېرش (۳۰) سانتي متر او پر هکتار ۱۵۰ کیلوگرام نایتروجن وربانديږ استعمال سوی وو.

**خلص سپارښتنې**

1 . د رومي بانجانو د حاصلاتو د لوړولو لپاره د بوټو تر منځ فاصله باید ۳۰ سانتي متر او د نایتروجن اندازه پر هکتار ۱۵۰ کیلوگرام په نظر کې ونیول شي. همدارنگه د مېوې د جسامت او وزن د لوړولو لپاره باید د رومي بانجانو بوټي يو له بل څخه د ۵۰ سانتي متر په فاصله سره وکرل سي او پر هکتار ۱۵۰ کیلوگرام نایتروجن وربانديږ استعمال شي.

2 . د کرني، اوبو لگولو او مالداري ریاست څخه غوښتنه کوم چې و کروندگرو ته د بوټو تر منځ د فاصلو او مختلفو سرو په هکله عامه پوهاوی ورکړي تر څو په خپل کښت او کرونده کې ورڅخه استفاده وکړي.

3 . د مسلک له مینه والو څخه غوښتنه کوم چې د رومي بانجانو د حاصلاتو او د مېوې د کیفیت د لوړولو لپاره د ډول ډول سرو او جغرافیایي موقعیت په نظر کې نیولو سره څېړني تر سره کړي.

# د شنوخونو په بادرنګو کې ريښې غوټه کوونکو نيماتودونه ( Meloidogyne spp.): پيښېدنه، مخنيوی او په افغانستان کې د دوی په واسطه رامنځ ته کېدونکی زيان

# Root-knot nematode (*Meloidogyne* spp.) in cucumber under protected cultivation: incidence, management and avoidable yield losses in Afghanistan.

ښېرونکی: پوهنيار حکمت الله نيمګړی

د ښېرونکي ايمېل ادرس: Hekmatullah.n4@gmail.com

**لنډيز**

ريښـــې غوټه کوونکي نيماتودونه (Meloidogyne spp.) په نړيواله کچه د ســـبزيجاتو د توليد پر وړاندې ګواښ دی چې نباتاتو ته په درانده شـکل زيان رامنځ ته کوي. د افغانســتان د کندهار ولايت په شنو خونو کې د نوموړو نيماتودونو پلټنه، مخنيوی او د دوی په واسطه رامنځ ته کېدونکی زيان د څېړنې عمده موخې وې. اته (8) شـــنې خونې چې په ســـتېديم، ســـپين زيارت، غني خان کلاچه، زوړ شـــار، مهله نجان، ميرويس مېنه، شـــېرسرخ بابا او عينو مېنه کې بادرنګ پکې کرل شــوي ؤ د نيماتودونو لپاره د ځانګړې نمونې اخيســتنې لپاره سروې شــوې دي. د نباتاتو د ريښـو او خاورو د نمونو د تحليل او تجزيې په پايله کې څرګنده شوې ده چې 50٪ سروې شوې شنې خونې د نوموړو نيماتودونو په واسطه اخته دي. د نيماتودونو لوړه کچه پيښېدنه (80%) چې شدت (48%) ؤ له محل نجات څخه ثبت شوی په داسې حال کې چې د زوړ ښار په سيمه کې د خاورو د نيماتودونو لوړ ترينه کچه (360 J2s/200 cc soil) ثبت شوې دي. په پرتله ايز ډول زياتره شنې خونې په کمه کچه اخته وې. په محلي ډول د لاسرسي وړ عضوي مرستندويه مواد (د چرګانو سره، د شړشمو کنجاړه، د فار سره) د زوړ ښار په سروې شوې شنه خونه کې د ۲۰۲۱ زکال د فبروري مياشتې څخه تر مې مياشت پورې د ريښې غوټه کوونکو نيماتود (M. incognita) د مخنيوي لپاره څېړل شـوي دي. د شـړشـمو د کنجاړې د چلند (30g/plant) په واسطه ټيټ ترينه د ناروغۍ پيښېدنه (55%)، د نيماتود د نفوس تراکم (205 J2s/200 cc soil) او لوړ ترين حال (3.1 kg/plant) تر لاسه شوي دي.

**خلص سپارښتنې**

د دې څېړنې د پایلو پربنسټ، په شنو خونو کې د ریښې غوټه کوونکو نیماتودونو د مخنیوي لپاره د شـړشـمو د کنجاړې کارول د کیمیاوي نیماتود وژونکو موادو د اسـتعمال یوه بدیله لار ده. سره له دې، نوموړي مواد د غوره پایلو د ترلاسه کولو په موخه د بیا وکارول او وڅېړل شي.

## د شنوخونو په بادرنگو کې د ریښې غوټه کوونکو نیماتودونو ( Meloidogyne spp.) مخنیوی.

## Management of root-knot nematodes (*Meloidogyne* spp.) in cucumber under protected cultivation system.

څېړونکی: پوهنیار حکمت الله نیمګړی

د څېړونکي ایمېل ادرس: **Hekmatullah.n4@gmail.com**

**لنډیز**

بادرنگ (Cucumis sativus L.) د ارزښـت لرونکو سـبزیجاتو له ډلې څخه دي چې په کلنۍ ډول په شـنوخونو کې د کال په جریان تولیدېږي. د بادرنگو بوټي په غوره زهکشـې شـوو حاصلخېزه خاورو کې چې د پي ایچ اندازه له ٦.٥-٧.٥ پورې وي، غوره وده او حاصل ورکوي. په شـــنو خونو کې د کمرنگه کرنیز تناوب د پلي کېدو له امله نوموړي نباتات زیاتره وخت د خاورې زېږنده پتوجنونو تر برید لاندې راځي. له دې ډلې څخه یو هم ریښـــې غوټه کوونکي نیماتودونه (Meloidogyne spp.)، داخلي سـاکن اجباري پرازیټونه دي چې په نمایشي ـ ډول په لوړه کچه د زیان د رامنځ ته کېدو سره سره د شـــنو خونو شرایط د نوموړو پتوجنونو د ودې او تکثر لپاره په لوړه کچه مناسـب او برابر دي. د مقاومت لرونکو نباتاتو او بیولوژیکي عواملو کمښت او نشتون او همدارنگه د ټکنالوژۍ محدودیتونه د نوموړو پتوجنونو د مخنیوي په برخه کې عمده سـتونزې دي. د ودې د مخنیوي لپاره تر دې مهاله یواځنۍ باورې کړنلاره د کیمیاوي موادو کارېدنه ده. په دې څېړنه کې ابامکټین (Abamectin)، (مېتام سـوډیم

(Metham sodium)، فلورپایرم (Fluopyram) او پنځم نسـل فورېټ (Phorate 5G) د چلندونو په ډول په RBD ډیزاین کې له څلورو تکرارونو سره د کندهار ښــار، میرویس مېنې په طبیعي شــکل اخته شــنه خونه کې (626.66 J2s/200 cc soil~) پلي شــوي دي. د ناروغۍ د پېښېدو، شدت، د خاورې د نیماتودونو د نفوس او بادرنګو د حاصـل ارقام راټول او د SPSS (v.24.0.0) پروګرام په واسـطه تحلیل او تجزیه شـوي دي. د پایلو پربنسـټ، مېتام ســوډیم له ټولو چلندونو څخه د نبات او نیماتودونو د پارامېترونو اړوند غوره اغېزې ښــودلې دي. د نوموړو نیماتودونو په واسـطه د بادرنګو ثبت شـوی د حاصـل زیان 3.23 kg/plant~ دی.

## خلص سپارښتنې

کیمیاوي آفت وژونکي په شــدیدو اخته تجارتي شــونو خونو کې د ریښـــې غوټه کوونکو نیماتودونو د مخنیوي یوه بـاوري لار ده خو، پـه مکرر ډول د یوه نیماتود وژونکي (مېتـام سوډیم) کارول د سوډیم د شتون پر بنسټ د خاورې د جوړښت د تخریب سبب کېدای شي. نو له دې امله په شـــنونو خونو کې د ریښـــې غوټه کوونکو نیماتودونو د مخنیوي په موخه د کیمیـاوي موادو یو ګټور تنـاوب کولای شي چې پـه غوره ډول د نوموړو مخربو پتوجنونو پـه مخنیوي او کنټرول کې رغنده رول ولوبوي.

# د کیمیاوي حشره وژونکو په وسیله د رومیانو مېوې د سوري کوونکي چینجي (Helicoverpa armigera) مخنیوی

ځېړونکی: پوهنمل غني داد سعیدي

د ځېړونکي اېمېل ادرس: ghanisaedi@gmail.com

**لنډیز**

رومیان د خپلې ودې په مرحله کې د ځینو آفتونو تر حملې لاندې راځي چې د هغو له جملې ځخه یو هم د رومیانو د میوې سوري کونکی چینجی دی. د یادې لاروا د مخنیوي لپاره د اندوکسی کارب (Indoxacarb 14.5% SC)، امیداکلوپراید ( Imidaclopride 17.8% SL) ، دلتامترین(Deltamethrine 2.8%EC)، لمبداسای هالوترین (Lambdacyhalothrine 5% EC) او ملتاین (Malathion 50% EC) کیمیاوي حشره وژونکو ځخه په تر تیب د 0.5 ml/L، 0.3ml/L، 1ml/L، 1ml/L او 1ml/L غلظتونو د رومیانو د میوې د سوري کونکي چینجي د مخنیوي لپاره استفاده سوې ده. یاده ساحوي څېړنه د کندهار ولایت د ډنډ په ولسوالۍ کې په (RCBD) ډیزاین او څلور تکراره کې د رومیانو پر بوټو باندې د ۱۴۰۱ – ۱۴۰۲ کلنو په جریان کې تر سره سوې ده. د یادې څېړنې نتیجه داښیي چې اندوکسی کارب، امیداکلوپراید، دلتامترین، لمبداسای هالوترین او ملتاین حشره وژونکو په تر تیب سره په اوسط ډول ۷۲.۷۳، ۷۰.۱۳، ۷۳.۹۲، ۸۸.۱۴او ٦٥.١٥ د رومیانو د میوې د لارواوو په شمېر کې کموالي را وستلی وو. د رومیانو د میوې د سوري کوونکي چینجي د ښه مخنیوي لپاره مؤثره او اغیزمن حشره وژونکي اندوکسی کارب دی، ځکه چې اندوکسی کارب حشره وژونکي د ۳، ۷او ۱۰ ورځو محلول پاشي ځخه وروسته په ترتیب سره ۷۲.۷۳٪، ٪ ۸۵.۷۱ او ٪۹۰.۷۰ مړینه د رومیانو د میوې په آفت کې رامینځ ته کړې وه. د اندوکسي کارب حشره وژونکي مؤثریت او اغیزې د رومیانو د میوې پر سوري کونکي چینجي باندې نسبت و نورو حشره وژونکو ته ډیري زیاتې دي. یو عمده علت یې په پراخه اندازه پر

آفتونو اغیزې لرونکي دي، چې کم شمېر آفتونه یې په وړاندې مقاومت کولای سي. پورته ذکر سوي عاملین او کیدای سي نور داسې عاملین موجود وي چې د آفت د نفوس په کموالي کې

يې مرسته کړې وي نو د دې لپاره باید نوري څېړنې تر سره سي چې د آفت د نفوس ټول عاملين په ښه ډول واضح او څرگند سي.

**کليدي کلمې:** حشره وژونکي، رومي بانجڼ، سوري کوونکی چنجی، مخنيوی

## خلص سپارښتنې

د روميانو د ميوې د سوري کونکي چينجي د مخنيوی لپاره که لاندې کړنې عملي سي تر ډېره ځايه به د ياد آفت مخه په ښه ډول نيول سوې وي.

1. څرنگه چې په ياده څېړنه کې د روميانو د ميوې سوري کونکي چينجي د مخنيوي لپاره تر ټولو مؤثر او اغيزه لرونکی حشره وژونکي اندوکسی کارب وه، نو سپارښتنه کيږي چې د روميانو د ميوې د سوري کوونکي چينجي د مخنيوی لپاره دې د اندوکسی کارب حشره وژونکي څخه استفاده وسي.
2. د روميانو د سي ايچ فلاټ (**CH Flat**) ورايټې د بوټو ترمنځ فاصله بايد ٦٠ سانتي متره په نظر کې ونيول سي، چې يادو بوټو ته په سم ډول د لمر وړانگې، د هوا جريان او اوبه ورسيږي، چې يادې کړنې د حاصلاتو په ډېر والي کې مهم رول لري.
3. د روميانو په کرونده کې کروندگر بايد د هرزه وښو و مخنيوي ته پوره توجه وکړي، ځکه چې هرزه واښه د آفتونو لپاره غوره پټن ځايونه، د حاصلاتو د کمښت باعث او د کوربه نبات سره په غذايي موادوکې سيالي کوي.

# د هوږي پر وده او حاصل باندې د حیواني سرې او NPK اغیزې

څېړونکی: پوهندوی نقیب الله مجددی

د څېړونکي ایمېل ادرس : Mujadidi86@gmail.com

**لنډیز**

هغه علمي څېړنه چې د کندهار پوهنتون کرهنې پوهنځۍ په څېړنیز فارم کې د ۵/۱۲/۱۳۹۵ - ۲۰/۴/۱۳۹۶ لمریز کلونو تر منځ د ژمي په موسم کښې ترسره سوه دا تجربه د (RBD) Randomized block design په ډیزاین کارول سوې ده، چې د نهو چلندونو (Treatments) او دریو تکرارونو (Replications) درلودونکې وه. د نایتروجن، فاسفورس او پوتاشیم (NPK) په بیلابیلو قطارونو کې د 100:75:75 او 120:75:75 کیلوګرام پرهکتار یوځای د حیواني سرې د 20 او 25 ټنو په مقدار د هوږې (*Allium Sativum* L.) پر وده او حاصل باندې آغیز په نښه کوي. احصائیوي تحلیل چې F test په کښې تر سره کیده وښودل چې د دغه دوو سرو ګډ استعمال په ښه توګه سره د هوږې د ودې او حاصل ټول اړخونه اغیزمن کړل هغه چې تر مطالعه لاندې نیول سوي د یادې څېړنې د نهو چلندونو (۹) له منځ څخه غوره چلند ($T_5$) چې د حیواني سرې او NPK دګډ استعمال او ترکیب (FYM 20 t ha$^{-1}$ +NPK 100:75:75 kg ha$^{-1}$)، څخه رامنځته سوی وو، دا ځکه چې د نوموړي چلند په ترکیب کې د نورو چلندونو په پرتله د هوږی د حاصل په پارامترونو کې د پام وړ زیاتوالی تر سترګو سو، هغه ارقام چې د همدې پنځم چلند څخه په دې علمي څېړنه کې د احصائیوي مقایسی او (CD) په اساس د ارزښت وړ بدلون د غوټې قطبي قطر (6.22 cm)، غوټې استوایي قطر (5.16 cm)، تازه غوټې وزن (84.60 g)، غوټو حاصل په کورد (Plot) کې (4.40 Kg) اومجموعي حاصل په هکتار کې (195.55 q) رامنځ ته سوی دی، چې د $T_0$,$T_1$,$T_2$, $T_3$, $T_4$, $T_6$,$T_7$ او $T_8$ په پرتله د پام وړ احصائیوي بدلونونه پکښې لیدل کیږي.

**کلیدي کلمې:**ـ حیواني سره، نایتروجن، فاسفورس، پوتاشیم، هوږه، نمو، حاصل

**خلص سپارښتنې**

دعلمي څېړنې د ترسره کېدلو وروسته سپارښتنه کېږي چې د حيواني سرې (FYM) شل (20) ټنه د NPK 100:75:75 کيلوګرامه په هکتار کې يو ځای استعمال او ځمکې ته علاوه کول د هوږي نبات د ودې او حاصل په پارامترونو باندې د پام وړ اغېزه درلوده.
د افغانستان د جنوب غرب حوزې (کندهار ولايت) د اقليمی شرايطو په نظر کې نيولو سره کروندګرو او مسلک پوهانو ته دا سپارښتنه کېږي چې د عضوي او غيري عضوي سرو ذکر سوی ګډ ترکيب کوم چې په پنځم چلند کې ګټه ورڅخه اخيستل سوې د هوږې د ودې او حاصل په پارامترونو باندې د ليدو وړ اغيزه کوي په پايله کې د حاصل او ا قتصادي عوايدو د ډيروالی سبب کيږي، کولای شي ور څخه استفاده وکړي.

## د ماروکدو (Cucurbita pepo. L) د سپيرغوړي ناروغۍ په مخنيوي کې د محلي موادو (غوا تازه شيدې، نيم ونې د پانړو شيره او لمرګلي غوړي) او فنګس وژونکو (فنکونازول) د اغيزو پرتله کول.

څېړونکی: پوهنيار قدرت الله دوست
د څېړونکي ايمېل ادرس: Qudratdost2009@gmail.com

**لنډيز**

دغه څېړنه د ۲۰۲۱ کال په پسرلي کې د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون په فارم کې تر سره سوې ده. د څېړنې هدف د محلي موادو په مرسته د مارو کدو د سپيرغوړي ناروغۍ مخنيوی او د کيمياوي فنګس وژونکو غوره بديل موندل وؤ. په دغه څېړنه کې دری ډوله محلي مواد ٪۵۰ د غوا تازه شيدې، ٪۲۰ د نيم د پانړو شيره او ٪۰.۵ د لمرګلي غوړي او يو ډول کيمياوي فنګس وژونکي توپاس ۱۰۰ اي سي ۰.۲۵ ملي ليتره په يو ليتر اوبو کې چې د ۲۵۰ پي پي ايم معادل دی کارول سوي دي، په کنترول پلاټونو کې مقطرې اوبه شيندل سوې دي. ياده څېړنه په پنځه چلندونو او څلور تکراره کښې په RBD ډيزاين کې ترسره سوې ده. د څېړنې په پايله کې وموندل سول چې د ناروغۍ د شدت په کمښت کې تېوفاس فنګس وژونکي

د ۱۱.۱۳٪ اغیزې په لرلو سره  تر ټولو اغیزمن چلند وو، چې د ۵۰٪ غوا تازه شیدو ، ۲۰٪ نیم پاښو شیرې او  ۰.۵٪ لمرګلي غوړو په وسیله په ترتیب سره (۱۱.۹۸٪، ۱۲.۸۸٪ او ۱۳.۳۹٪) اغیزو په لرلو سره تعقیب کیده. همدارنګه په کرونده کې د ناروغي د شدت په کمښت کې هم فنګونازول تر ټولو اغیزمن وو کوم چې د غوا د تازه شیدو، نیم ونې د پاښو شیرې او لمرګلي غوړو په وسیله چه په ترتیب سره (۱۸.٦۵، ۲۱.۱۱ او ۲۲.۵۸٪) اغیزو په لرلو سره تعقیب کیده. د کدو د ساقې لوړوالی، د پاڼې د سطحې اندازه او په نبات کې د پاڼو شمېر  هم د کنترول پلاټونو سره په مقایسه کې زیات سوی وه. ټوپاس او د غوا تازه شیدو چلندونو په ترتیب سره د ۴۱.۸٪ او ۴۰.۸٦٪ SPAD کلوروفیل په لرلو سره تر نورو چلندونو زیات اغیزمن وو. همدا رنګه په څېړنه کې معلومه سول چې د نبات لوند او وچ وزن، په نبات کې د میوو شمېر، د میوو اوسط وزن او حاصلات په مقایسوي ډول زیات سوي وو.

**خلص سپارښتنې**

1. د نباتاتو د ناروغیو په مخنیوي کې محلي موادو کارول د چاپیریال په ساتنه کې مرسته کوي.

2. د نباتاتو سپیرغوړي ناروغۍ د مخنیوی لپاره د غوا تازه شیدې د فنګس وژونکو ښه بدیل دي.

3. د نیم ونې د پاڼو شیره او لمرګلي غوړي د نباتاتو سپیرغوړي ناروغۍ مخنیوی کولای سي.

# دوهم فصل

# د خاورې او اوبو برخه

## د خاورې په قلویت او مالگینتوب باندې د حیواني سرې او جپسم (گچ) اغیزې

څېړونکی: پوهنیار کرامت الله فاضل

د څېړونکي ایمېل : Karamatullah.fazil@gmail.com

**لنډیز**

د خاورې قلویت او مالگینتوب په کندهار ولایت خاورو کې لویې ستونزې گڼل کېږي چې د نباتاتو د کمزورې ودې او لږو حاصلاتو لامل دي. حیواني سرې او گچ دواړه هغه مواد دي چې کولای شي د خاورې pH او مالگینتوب تر ډېره کنترول او د خاورې په جوړښت کې مثمر رول ولوبوي، نو په همدې اساس یوه څېړنه په Split Plot Design کې ترسره شوه چې اصلي ټریټمنټونه یې د حیواني سرو درې اندازې (۰، ۵ او ۱۰ ټنه پر هکتار) او فرعي ټریټمینټونه یې د گچ یا جپسم درې مختلفې اندازې (۰، ۲ او ۴ ټنه پر هکتار) وو، د لوبیا نبات په کرونده کې تر ۱۵ سانتي متره ژورې خاورې کې استعمال شول. د څېړنې پایلې وښودله چې دواړو موادو د خاورې قلویت او مالگینتوب په مؤثره توگه راښکته کړی وو. تر ټولو غوره نتیجه د ۱۰ ټنه پر هکتار حیواني سرې او ۴ ټنه پر هکتار جپسم په استعمال سره ترلاسه شوې وه، چې د دوی دواړو گډې اغیزې هم مثبت او تر نورو غوره پایله درلودله.

**کلیدي ټکي**: قلویت، مالگینتوب، حیواني سرې او جپسم

**خلص سپارښتنې**

ددې څېړنې په نتیجه کې کولای شو، بزګرانو او د مسلک خاوندانو ته لاندې سپارښتنې ولرو:

1. په ټولو هغو خاورو کې چې د لوړ pH درلودونکې او مالګې یې هم زیاتې وي، د حیواني سرو لوړه اندازه سپارښتنه کولای شو، ۱۰ ټنه پر هکتار استعمال یې غوره پایله لري.

2. د قلویت او مالګینتوب په کنترول کې د ګچ ۴ ټنه پر هکتار غوره پایله درلودله او سپارښتنه یې کېږي.

3. ټولو څېړونکو او د مسلک خاوندانو ته سپارښتنه کېږي چې تر ۱۰ ټنه حیواني سرې او ۴ ټنه جپسم لوړې اندازې په خپلو څېړنیزو پروژو کې و ارزوي تر څو تر ټولو مناسبه اندازه یې لاسته راشي.

# د خاورې پر فزیکي، بیولوژیکي او کیمیاوي ځانګړنو باندې د اقلیمي شرایطو د بدلون اغیزې

څېړونکی: پوهندوی قدرت الله احسان

د څېړونکي اېمېل ادرس: Qudrat.ehsan@gmail.com - qudrat.ehsan@anastu.edu.af

**لنډیز**

خاوره هغه طبعي جسم دی چې د تجزیه سوو ډبرو، منرالونو او ورستو عضوي موادو د مخلوط څخه د پروفایل په شکل جوړه سوې ده چې د ځمکې پر مخ یو نری قشر جوړوي او د انسانانو او حیواناتو لپاره استوګنځی همدارنګه د نباتاتو لپاره اوبه، استوګنځی او یوه اندازه غذایي مواد برابروي. خاوره د بېلابېلو ځانګړنو په درلودلو سره د اقلیم سره مستقیمې او غیر مستقیمې اړیکې لري. د اقلیم په بدلون سره د خاورې په مختلفو (فزیکي، بیالوژیکي او کیمیاوي) فکتورونو باندې اثرات واردېږي او خاوره د تکسچر، سټرکچر، پروفایل، د خاورې تشکیل، د خاورې په حاصلخیزی، د خاورې په رطوبت، تودوخه، په خاوره کې د سته عناصرو په لړوالي او زیاتوالي،

د خاورې pH او د خاورې په محلول کې د عناصرو د انتقال او جذب له مخې متضرر وي او همدارنګه خاوره د استفادې له مخې بې ارزښته کوي چې په نتیجه کې یې خاوره له منځه ځي او تخریب کېږي. چې په دې سره د نباتاتو، حیواناتو او انسانانو ژوند د ستونزو سره مخ کېږي. د خاورې اصلاح کوونکو موادو استعمال، د عضوي سرو استعمال، د پوښونکو نباتاتو کړل او د اوبو لپاره د ډمونو جوړول تر یوې اندازې د خاورې د تخریب په مخنیوي او ساتلو کې مهم رول لري.

**کلیدي کلمې:** اقلیم، بیولوژیکي ځانګړنې، خاوره، فزیکي ځانګړنې، کیمیاوي ځانګړنې.

**خلص سپارښتنې**

1. پر خاوره باندې د اقلیمي شرایطو د بدلون اغېزې علمي څېړنې ترسره کړل شي.
2. په خاوره کې د خاورې اصلاح کوونکې موادو ډول، ډوز او استعمال ترویج کړئ، کوم چې زموږ خوار کروندګر د اقلیمي شرایطو د بدلون د منفی اغېزو سره اشنایي نلري.
3. د اوبو چېک ډمونو پروژې پیل او په هرسل کیلو مترئ کې یې د اوبو یو ډم جوړه کړئ او همدارنګه د ځنګلونو د بیا احداث لپاره برنامې او طرحې دیزاین کړل شي.
4. تر سره سوې علمي څېړنې په بېلابېلو طریقو سره و کروندګرو ته ور ورسیږي او ترویج شي.
5. د (Cover Crops) یا د مځکې پوښونکې نباتاتو کرل د خاورې د ساختمان او جوړښت د ساتلو لپاره وکرل شي.

# په کندهار ولایت کې د خړوبونې په موخه د سیلابي اوبو د کیفیت ارزونه

څېړونکی: پوهنمل دوکتور حکمت الله

د څېړونکي بریښنالیک: hikmat_obaid@yahoo.com

**لنډیز**

د خړوبونې د اوبو د کیفیت ارزونه په ځانګړې توګه د سیلابي اوبو د کیفیت ارزونه، د خاورې د حاصلخیزي د ښه کولو، د خاورې ځانګړتیاوو د ساتلو او همدارنګه د ښه کیفیت لرونکو حاصلاتو د تولید لپاره خورا مهمه ده. د سیلاب د اوبو کیفیت په مستقیمه توګه د اورښت د اوبو په کیفیت، د اوبو د جریان په مسیر، او هغه سیمې چې دغه اوبه د خړوبونې په موخه پکښې استعمالیږي اړه لري. همدارنګه د دې اوبو کیفیت د اورښت په مقدار او شدت پورې هم اړه لري چې د شروع څخه د خاورې د تخریب لامل سوي او نور اضافي موادو چې د سیلاب و اوبو ته د لارې په اوږدو کې شامل سوي دي. په هرصورت، ټول په اوبو کې منحل سوي مواد د سیلابونو په واسطه کرنیزو ځمکو ته راوړل کیږي او د کرنې د خاورې په کیفیت مثبت او منفي اغیزه کوي. هغه سیلابي اوبه چې په کندهار ولایت کې په 2022 م کال د دوبي په موسم کې د شدیدو اورښتونو په وجه رامنځته سوې او د خړوبونې ټول کانالونه ورڅخه ډک سوي دي، د کیفیت د ارزونې په موخه د ظاهر شاهي کانال او د هغه د فرعي کانالونو څخه د سیلاب د اوبو نمونې راټولې سوې ترڅو د سیلابي اوبو کیفیت د آبیارۍ په موخه مطالعه کړو. د مطالعاتو پایله ښیي چې د سیلاب اوبه یوه اندازه القلي وې (pH = 8.07)، پداسې حال کې چې د ( EC (0.754dS/m او TDS (528 mg/L) د قیمتونو په اساس، د سیلاب اوبه په مناسبه اندازه مالګیني وې. د سیلاب د اوبو د منتقله موادو او اوبو نسبت د دری سلنه څخه زیات وو. په سیلابي اوبو کې د منتقله خاورې د جوړښت صنف د خاورې د طبقه بندۍ په اساس لوم (loam) خاوره محاسبه سوې ده، چې د سلنې له مخې یې د ریګ، سیلټ او کلې اندازه په ترتیب سره 41.7، 36.5 او 21.8 وه. پایلې دا هم جوتوي چې په عمومي توګه اندازه سوې مشاهدې د مخکنیو معلوماتو (دسیلاب څخه مخکې داوبو نمونې) په پرتله د پام وړ زیاتوالی درلود. د دې ډول سیلابي اوبو په وسیله اوږدمهاله آبیاري په کرنیزو ځمکو کې مناسبه نه وي دا ځکه چې نور هم د کرنیزو ځمکو د pH او مالګینتوب کچه لوړه وي، پداسې حال کې چې دا

حالت به د هغو ځمکو لپاره ګټور وي چې د حاصلخيزی کچه يې ټيټه، ټيټ pH ولري او داسې ځمکې چې د خاورې د سلټو ذراتو اندازه يې کمه وي.

**کليدي کلمې**: سيلابي اوبه، خړوبونې، کيفيت، د خاورې ځانګړتياوې


**خلص سپارښتنې**

په عمومي توګه د دغه ډول سيلابي اوبو خړوبونه د خاورې حاصلخيزي ښه کوي او د زياتو منتقله موادو په لرلو سره دخاورې ميخانيکي سمون سبب ګرځي. هغه ځمکې چې د خاورې د pH او EC اندازه يې ټيټه وي د دغه ډول اوبو خړوبونې د يادو ځانګړتياوو د سمون او ښه والي سبب کيدای سي. او په مقابل کې هغه خاورې چې مخکې د دې مشاهداتو اندازه لوړه ښودل سوې وي د خاورې جوړښت متضرر کوي او حاصلخيزي کموي. هغه کرنيزې ځمکې چې د شکو اندازه يی نسبتاً زياته وي د دغه ډول سيلابي اوبو خړوبونې چې د خاورې زيات مقدار منتقله مواد لري خورا مفيد ده او په خاورې کې د خاورې د زراتو د زياتيدو سبب ګرځي اوهمدا شيان په خاوره کې د اوبو ساتلو توان زياتوي.

# مالګينې خاورې اصلاح کول

 څېړونکی: پوهنوال نصیراحمد نصرت

د څېړونکي اېمېل ادرس : **n.a.nasrat@mail.com**

**لنډيز**

په ټولو خاورو کې څه نا څه مالګې موجودې دي خو په خاورو کې د زیاتو مالګو شته والی د ډیرو مهمو کرنیزو پرابلمو او خنډونو څخه شمېرل کيږي، چې د نباتاتو د ودې او حاصلاتو د کموالي او حتی د هغو د مړینې سبب ګرځي. په مالګو لرونکو خاورو کې نباتات د زیاتو منحلو مالګو یا زیات تعویضي سوډیم یا دواړو په واسطه متأثره کيږي. مالګې لرونکې خاورې یا (salt affected soils) زیاتره وختونه په وچو او نیمه وچو سیمو کې چیرې چې کلنی اورښت د(Evapotranspiration ) په نسبت کم وي په زیاته پیمانه لیدل کيږي. په نوموړو سیمو کې ددې پرځای چې ما لګې د خاورو څخه ومینځل شي په خاوره کې پا تې کيږي، او کله چې د هغو اندازه زیاته شي د نباتاتو پر وده باندې ناوړه اغیزه کوي. په لندو سیمو کې مالګې زیاتره د خاورو څخه مینځل کيږي، او له همدې کبله په هغو کې د مالګو لرونکو خاورو پرابلمونه دومره نه لیدل کيږي .دلته باید وویل شي چې د مالګو لرونکو خاورو پرابلمونه یوازې په وچو او نیمه وچو سیمو کې نه محدود کيږي، بلکې په ځینو لندو او نیمه لندو سیمو، په تیره بیا په هغوخاورو کې چې د زهکښي حالت یې د قناعت وړ نه وي هم د مالګې لرونکو خاورو پرابلمونه لري. مالګې لرونکې خاورې زیاتره په هغو ځمکو کې لیدل کيږي چې خړوبول کيږي ځکه چې ټولې اوبه یوه اندازه مالګې لري او کله چې د خاورې د زهکښي حالت ښه نه وي په خاوره کې د ما لګو د زیاتیدو سبب ګرځي. څرنګه چې د افغانستان خاورې د اورښت له کبله داسې جوړې شوې دي چې منحلې مالګې یې نسبتاً زیاتې دي، او په ډیرو ځایو کې د منحلو مالګو ستونزې شته، خو د تعویضي سوډیم ستونزې دومره زیاتې نه لیدل کيږي.

**کلیدي کلمې**: اصلاح کول ، مالګینې خاورې ، طبقه بندي

**سپارښتنې**

د دې لپاره چې خاوره د مالګینتوب څخه وساتو لاندې سپارښتنې د په نظر کې ونیول شي.

1. د خړوبولو ګټورې طریقې لکه د څاڅکو په ډول آبیاري، باراني آبیاري او جویه اي ابیاري د په کار ولویږي.

2. خاوره دې د ولاړو اوبو څخه وساتل شي.

3. که اوبه پاکې وي یعنې د سودیم د جذب نسبت یې لیږ له ۳ -SAR- او سلینټي یې کمه له (ds/m)۰،۷۵ او پی ایچ یې له ۶،۵ – ۸،۳ په منځ کې وي ځمکه ډیره خړوبه کړئ.

همدارنګه که چیري له ډیرو هڅو وروسته بیا هم خاورې مالګې ولري لاندې کړنې ترسره کړئ .

1. داسې نباتات وکرو چې د مالګینتوب په مقابل کې مقاومت ولري ( وربشې، چغندر او پنبه).

2. داسې نباتات وکرل شي چې ډیرې مالګې استعمال کړای شي.

3. ځمکه د زیاته خړوبه شي څو د ریښو په شاوخوا کې یې د مالګې غلظت په نسبي توګه کم کړای شي.

4. نباتات باید د جویې د پولې په څنګ کې وکرو نه د پولې په سر کې ځکه عموماً د مالګو غونډوالی د پولې په سر کې لیدل کیږي.

# دریم فصل

# د حیواني او وترنري علومو برخه

## د لوبیا د څلورو ډولونو د عصارې په واسطه د تولید شویو ماستو د فزیکي-کیمیاوي ځانګړتیاوو ارزونه

څېړونکی: پوهنمل احمدالله ظاهر
د څېړونکي اېمېل ادرس: Ahzahir.af@gmail.com

**لنډیز**

په دې وروستیو نږدې کلونو کې، په عامه روغتیا کې د نویو غذايي موادو ونډه د ژوند د مخ پر لوړېدو کچې، د درملنې د بیې لوړېدل او د مصرف کونکو پاملرنه داسې غذايي موادو چې روغتیایي ګټې ولري، په چټکۍ سره د ودې په حال کې ده. په دې څېړنه کې، مونږ په سړه زېرمه کې د ۲۸ ورځو په ترڅ کې د نوي محصول یعنې Common bean-fortified yogurt (CBWFY) فزیکي-کیمیاوي او جوړښتیزې ځانګړتیاوې، مایکروبي شمېر او د تېزاب د تولید کچه و ارزوله. په پایله کې، د لوبیا د ټولو نمونو د عصارې په واسطه د تولید شویو ماستو نمونو په لوړه کچه تېزابیت او په ټیټه کچه pH وښودلو چې دا په محصول کې وروسته له تولید او د ۲۸ ورځو د زېرمې په ترڅ کې لوړ مایکروبي شمېر وړاندې کړ. د محصول د رنګ په برخه کې د "a" او د "L" ارزښتونو په ټولو نمونو کې د پام وړ بدلون نه وو تر سره شوی، مګر د "b" ارزښت بدلون موندلی وو. د ماستو د اضافي اوبو لوړه کچه د سپینې لوبیا (۱۴.۸٦٪) سره مل وه، په داسې حال کې چې د اضافي اوبو ټیټه کچه د سرې لوبیا (۱.۸۱٪) سره مل وه. د محصول د جوړښت په برخه کې، د کنترول او نوي محصول (CBWFY) Cohesiveness ټیټوالی موندلی وو، په داسې حال کې چې د زېرمې په ترڅ کې د Hardness، Springiness او Gumminess اصلاح شوي وو. په پام وړ توګه سره، سرې او سپینې لوبیا د (Cohesiveness, Springiness او Gumminess) لوړه کچه درلوده، سره له دې چې مونږ د Hardness کچه د سپینې لوبیا په نمونه کې تر لاسه کړه. په ټوله کې،

دغي څېړنې وښودله چې نوي تولید محصول په ساړه چاپیریال کې تر ۲۸ ورځو پورې خپل ځانګړتیاوې ساتي او د خوراک وړ دی او اړتیا شته چې په دې ترڅ کې د محصول حسي څېړنه هم تر سره شي.

**خلص سپارښتنې**

له دې نه چې دا محصول په ساړه چاپیریال کې زېرمه شو او د منلو وړ فزیکي-کیمیاوي او مایکروبیولوژیکي ځانګړتیاوې درلودې، نو اړتیا شته چې په دې ترڅ کې د نوموړي محصول حسي څېړنه هم تر سره شي او د پایلو پر بنسټ يې نورې څېړنې هم تر سره شي.

## په ماډل هضمي سیستم کې د لوبیا د څلورو ډولونو په واسطه د تولید شویو ماستو د انتي اوکسیدانت او د فعالیت د ACE –Inhibitory مطالعه

څېړونکی: پوهنمل احمدالله ظاهر
د څېړونکي ایمېل ادرس: Ahzahir.af@gmail.com

**لنډیز**

د نباتي سرچینه لرونکو پروتینونو په واسطه د ماستو غني کول، په دې وروستیو کلونو کې د پام وړ پاملرنه ځانته اړولې ده، مګر په دې برخه کې لږ څېړنې تر سره شوې دي تر څو د نباتي سرچینې د پروتین اغېزه د پروتین پر هضمیت او د فعالو پیپتایدونو آزادېدل وڅېړي. مونږ په دې څېړنه کې د څلور ډوله لوبیا لکه سپینه، توره، سره او سپینې او سرې لوبیا د پاتې شوې او له پروتین څخه غني برخې یعني Common Bean Whey (CBW) څخه ګټه پورته کړه او د ماستو نوي محصول Common Bean Whey Fortified Yogurt (CBWFY)) مو تر لاسه کړ. دا نوی محصول مو وروسته د معدې-کولمو *In vitro* ( (Gastro-Intestinal Simulation (GIS) د هضمي پروسې سره مخ کړ او وروسته له هضمیت څخه مو د نوموړي محصول د پروتین د هضمیت وړتیا ( Protein digestibility)، د انتي اوکسیدانت فعالیت (Antioxidant activity) او د (Angiotensin I Converting Enzyme (ACE) inhibitory) ځانګړتیا مطالعه

کړه. د کنترول ماستو (د غوا د خالصو شیدو څخه تیار شوي ماسته) پر پرتله، له توري لوبیا څخه تیار شویو ماستو پروتین د معدې او کولمو د هضم په مرحله کې په لوړه کچه د هضمیت پر وړاندې مقاومت وښودلو. د پیپټاید کچې او د SDS-PAGE پایلو وښودله چې د CBWFY نمونو په زیاته کچه د Hydrolysis ټیټه درجه په معده او د دودینوم د مرحلو په پیل کې وښودله. د انتي اوکسیدانت او د ACE inhibitory ډېر لوړ فعالیتونه د CBWFY نمونې وړاندې کړ چې په کې د سرې لوبیا Whey تر ټولو نورو د پام وړ لوړ فعالیت د کولمو د هضم په ۱۲۰ دقیقه کې وښودلو. د لومړي ځل لپاره، دغه څېړنې د لوبیا د څلورو ډولونو د Whey یوځای کولو اغېزه د ماستو د پروتین د هایدرولیز پر کنیتیک، د هضمیت درجې، د انتي اوکسیدانت او ACE inhibitory پر ځانګړتیاوو ترسره شوه.

**خلص سپارښتنې**

1. له دې نه چې دا محصول یو شمېر روغتیایي ګټې لري، نو اړینه ده چې دا ډول محصول تولید ته پراختیا ور کړل شي.
2. اړینه ده چې په راتلونکې کې د دې ډول محصول *In vivo* څېړنه هم تر سره شي.

## د Response Surface Methodology په کار وړلو سره د لوبیا د څلورو ډولونو د عصارې په واسطه د ماستو تولید: لومړنۍ څېړنه

څېړونکی: پوهنمل احمدالله ظاهر
د څېړونکي ایمېل ادرس: Ahzahir.af@gmail.com

**لنډیز**

په دې وروستیو نږدې کلونو کې، د غذایي موادو په برخه کې د نویو غذایي موادو د پراختیا او تولید په موخه زیاته پاملرنه تر سره شوې ده او د داسې غذایي موادو د پراختیا لپاره هڅې رواني دي چې اصلاح شوي تغذیوي او روغتیایي ګټې ولري په ځانګړې توګه د نباتي سرچینه لرونکو ترکیباتو په واسطه د لبني محصولاتو غني کول دي. په دې څېړنه کې، له

Response surface methodology (RSM)څخه کار واخېســتل شــو تر څو د Common bean whey-fortified yogurt (CBWFY)د تولید په موخه مطلوب حالتونه تر لاســه کړل شي، چې په کې د *Lactobacillus bulgaricus* لوړ شــمېر، د محصــول عالي فزیکي-جوړښــتیز او د خوښــې وړ حسيـ ځانګړتیا ولري. دا څېړنه د -box Behnken design” (BBD) په اســتعمالولو سره ترتیب شــوه چې درې غیر خپلواکه متغیېر لکه د تخمر وخت (۰- ۱۰ ســاعته)، د لوبیا د عصــارې تناســب (۲۵-۱۰۰٪)، او د پیل کونکي کښت اندازه (۱ -۵٪) په کې وو. د ماستو د فزیکي ځانګړتیاوو لکه pH، تیزابیت، د ژوندیو باکتریاوو شــمېر او د ماســتو د اضــافي اوبو (Synersis) د معلومولو لپاره، د دې پارامترونو لومړی اندازه او وروســته مطلوب حالت تعین شــو. د لوبیا په ټولو نمونو کې، د محصـول د تولید لپاره د لوبیا د استعمال مطلوبه کچه (۲۵٪)، د پیل کونکي کښـت کچه (۱-۴٪) او د تخمر وخت (۵.۵۴ ساعته) تر لاسه شو. د تخمر وخت او د لوبیا د عصارې غلظت په پام وړ توګه د *L. bulgaricus* کچه او د ماستو فزیکي-کیمیاوي ځانګړتیاوې تر اغېزې لاندې راوستلې. دغې څېړنې وښودله چې د غوا له شیدو سره د نورو دریو لوبیاوو پر پرتله، د سپینې لوبیا ۲۵٪ عصارې یو ځای کول، داسې محصول تر لاسه شو چې د ژوندیو باکتریاوو شمېر په کې لوړ وو او محصول ښه فزیکي-کیمیاوي ځانګړتیاوې او په لږ اندازه اضافي اوبه درلودې. په ټوله کې، دغې پایلو وښودله چې تر ۲۵٪ د سپینې لوبیا د عصارې په اضافه کولو سره د مصرف کونکو لپاره د خوښې وړ محصول تولیدولای شو.

**خلص سپارښتنې**

1. اړتیا شــته چې دا ډول څېړنه زمونږ په هېواد کې تر سره شي او پایله یې د غذایي موادو له تولیدي سکتور سره شریکه شي.
2. له دې نه چې دا ډول محصولات هم مغذي دی او هم روغتیایي ګټې لري، نو اړینه ده چې د غذایي موادو د تولیدي سـکتور له خوا تولید شي تر څو د غذایي موادو د امنیت د تأمین او د اقلیمي بدلون د ناوړه پایلو د را کمولو سره مرسته شوې وي.

# د کندهار ولایت غوښينو چرگانو تجارتي فارمونو کې د انتي بیوتیکو د استعمال مطالعه

ځېړونکی: پوهنيار فيصل دانش

د څېړونکي ایمېل ادرس: Faisaldanish443@gmail.com

**لنډیز**

دا څېړنه د کندهار ولایت مرکز او ولسواليو د غوښينو چرگانو په ۳۵ بابه تجارتي فارمونو کې د استعماليدونکو انتي بيوتيکو د ډولونو او د استعمال موخو د مطالعه کولو په اساس ترسره شوې ده. معلومات د معياري پوښتنپاڼو په وسيله د فارمدارانو سره د مخامخ ليدنې نتيجه کې را ټول شوي دي. موندنو وښوده چې د غوښينو چرگانو فارمونو کې په مجموعي توگه ۱۹ ډوله انتي بيوتيک په چرگانو کې د درېو عمده موخو (د ناروغيو تداوي، مخنيوي او ودې زياتوالي) لپاره استعماليدل. په زياته اندازه استعماليدونکي انتي بيوتيک عبارت وو له Enrofloxacin، Amoxicillin، Tylosin او Colistin څخه کوم چې په ترتيب سره ٪۱۰۰، ٪۹۷، ٪۸۳ او ٪۷۸ په اندازه استعماليدل. غوښينو چرگانو ته انتي بيوتيک په لوړه کچه د څښاک اوبو له لارې (٪۷۴) او علاوه له دې د غذا او زرق له لارې څخه په استفادې سره تطبيق کېږي. په نومړو فارمونو کې په مجموعي توگه د بازار عرضه کېدو تر وخته في قطعه چرگوړي (۴.۲) گرامه انتي بيوتيک استعمال شوي وو. فارمدارانو په زياته اندازه (٪۸۸.۵) انتي بيوتيک د وترنر داکتر د نسخې له مخې د درملتونو څخه پيرودل او همدارنگه په کمه اندازه (٪۳۱.۴) فارمدارانو د انتي بيوتيکو د پاته شونو او د هغوی له امله انساني جمعيت ته د پېښېدونکو گواښونو په اړه پوهاوی درلود.

**کليدي کلمې:** انتي بيوتيک، عامه پوهاوی، غوښين چرگوړي

**خلص سپارښتنې**

1. د هیواد په کچه د داسې پالیسي جوړیدل تر څو د حیواناتو روزنې برخه کې انتي بیوتیک په کمه اندازه د مسئولو ادارو تر کامل څارنې لاندې استعمال او د هغه انتي بیوتیکو کارونې مخه ونیول شي کوم چې په انساني طبابت کې ډیر کارول کیږي.
2. تجاران د وهڅول شي تر څو د انتي بیوتیکو په عوض د هغوی ځای ناستي (پروبایوتیک، پریبایوتیک..) هیواد ته وارد کړي او هم ورسره د نوموړو ځای ناستو د ارزښت په اړه فارمدارانو ته د عامه پوهاوي پروګرامونه په لار واچول شي.
3. د کرهنې او مالدارۍ وزارت باید په رسمي توګه د وترنري اصولو په نافذولو سره د انتي بیوتیکو د پراخ استعمال مخه ونیسي.
4. د عامې روغتیا اړوند مسئولو اداراتو ته په کار ده تر څو د انتي بیوتیکو له امله عامې روغتیا ته د شته ګواښونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه په لار واچوي.

## په وطني نسل وزو د شیدو ورکولو مختلفو دورو کې د وینې د کلسیم او ګلوکوز اندازه

څیړونکی: پوهنیار حسن الله عرفان
د څیړونکي ایمېل ادرس: hassanullahirfan8@gmail.com

**لنډیز**

د ښځینه تي لرونکو حیواناتو د تیونو څخه د شیدو ترشح کیدل د Lactation څخه عبارت دي. د څیړنې هدف دا وو چې د شـــیدو ورکولو د دورې په مختلفو وختونو کې ټاکل شـــویو بیوشـــیمیکي پارامترونو (ګلوکوز او کلســـیم) اندازو کې تغیرات معلوم شي. دا څیړنه د لغمان ولایت قرغیو ولسوالۍ په وطني وزو کې ترسره شوې ده، په مجموعي ډول د وینې 27 نمونې د 9 راس وزو څخه د شیدو ورکولو د دورې په 20 مه، 40 مه او 60 مه ورځ اخیستل شوې. راټولې شـــوې نمونې د ننګرهار پوهنتون د وترنري علومو پوهنځی د پري کلینیک څانګې لابراتوار کې د ځانګړو ټستونو په واسطه تحلیل شوې دي. د څیړنو پایلو وښودله چې د شیدو ورکولو د دورې په 20 مه ورځ د کلسیم اندازه mg/dl 9.801±0.660، په 40 مه ورځ 8.382±0.512

mg/dl او په 60 مه ورځ 10.320±0.645 mg/dl وه. کلسیم اندازه په شلمه او څلویښتمه ورځ نسبت شپیتمې ورځې ته د پام وړ (P<0.05 ) کموالی کړی وو. د ګلوکوز اندازه په 20 مه ورځ 57.384±1.67 mg/dl ، په 40 مه ورځ 54.074±1.91mg/dl او په 60 مه ورځ 51.317±2.58mg/dl وه. د ګلوکوز اندازه کې په شپیتمه ورځ نسبت شلمې او څلویښتمې ورځ ته ( P>0.05 ) زیاتوالی کړی وو، دځیږنو پایلو وښوده د شیدو ورکولو په دوره کې باید د وزو غذایي رژیم ته پاملرنه وشي تر څو د میتابولیکي ناروغیو د واقع کیدو او د مالدارانو د اقتصادي تاوانونو څخه مخنیوی وشي.

**کلیدی کلمې** : کلسیم، ګلوکوز، وزې، وینه

**خلص سپارښتنې**

1. حیواني باکیفیته دواګانې خصوصاً د منرالونو د کمبود دواګانې په هیواد کې جوړې او یا واردې کړل شي.
2. حیواني خوراکه چې په کافي اندازه کلسیم او ګلوکوز ولري جوړه او یا د نورو هیوادونو څخه واردې کړي تر څو په شیدو کې د کلسیم او ګلوکوز په اندازه کې تغیر رامنځته نه شي.
3. هغه حیوانات چې شیدی ورکوي د هغوی په غذا کې کلسیم لرونکې منابع باید زیاتې استعمال شي تر څو حیوانات په هایپوکلسیمیا اخته نشي.
4. حیواناتو ته بیلا نس شوې خوراکه ورکړل شي تر څو د شیدو ورکولو په مرحله کې د منرالونو او نورو اړینو موادو د کمبود سره مخ نشي.
5. د ګرانو مالدارانو څخه هیله کوم چې حیواناتو ته په خوراکه کې (D.C.P ) علاوه کړي.

# په کندهار ولایت کې په شیدو ورکوونکو غواگانو باندې د مصنوعي القاح د وضعیت مطالعه

څېړونکی: پوهنیارحسن الله عرفان او عبدالجلیل حمیدي

د څېړونکي ایمېل ادرس: hassanullahirfan8@gmail.com

**لنډیز**

افغانستان یو د هغه هیوادونو له جملې څخه شمېرل کیږي، چې د ښه آب او هوا په درلودلو سره یې د زراعت او مالدارۍ په برخه کې پراخه ساحه خپله کړې ده. کندهار ولایت د افغانستان یو د جنوب غرب زون د لویو ولایتونو د جملې څخه دی، چې د ښه اقلیم په درلودلو سره یې د مالدارۍ په برخه کې د یاد ولایت د خلکو لپاره ارزښتناکه بوختیا جوړه کړې ده. (په کندهار ولایت کې په شیدو ورکوونکو غواگانو باندې د مصنوعي القاح وضعیت مطالعه) تر عنوان لاندې موږ څېړونکو په یاده برخه کې د ځانګړو موخو د لاسته راوړلو لپاره یاده څېړنه ترسره کړې، چې مثبتې پایلې یې له ځانه سره لرلې.

مصنوعي القاح عبارت د هغه تخنیک څخه ده، چې د یاد تخنیک په وسیله نارینه جنسي حجرات د ښځینه تناسلي سیستم ته د حمل د نیولو په موخه معرفي کیږي. په کندهار ولایت کې د یادې څېړنې په ترسره کولو سره موږ څېړونکو وکولای شول، چې په یاده برخه کې هغه محدودیتونه لکه: د اقتصادي ستونزو شتون، د مختلفو امراضو شتون او د مالدارانو د عامه پوهاوي نشتوالي یادونه وکړو او د شیدو په برخه کې یې د غواګانو د شیدو د تولید لوړوالی، ۱۰٪ نسبت محلي نسل ته او د ظاهري شکل تغیر ٪۲۵ یادونه وکړو.

د یادې څېړنې د ترسره کولو لپاره موږ څېړونکو د پوښتنپاڼې د مېتود څخه په استفادې سره د پنځه کټګوریو خلګو څخه د کندهار ولایت په دوو لویو سیمو کندهار ښار او ډنډ ولسوالۍ کې د عامو مالدارانو، لوی فارم لرونکو، د مصنوعي القاح د تطبیق ټیکنیشنانو، خصوصي سکتور او د کندهار ولایت د ریاست زراعت او مالدارۍ آمریت څخه معلومات راغونډ کړي دي.

٪۶۲.۵ لوی فارم لرونکو خپلو غواګانو ته مصنوعي القاح تطبیق کول او ٪۳۷.۵ نه تطبیق کول.

د عامو مالدارانو له برخي څخه ٪۴۵ غواګانو ته مصنوعي القاح تطبیق کول او ٪۵۵ مالدارانو

مصنوعي القاح نه تطبيق کول. د کندهار ولايت رياست زراعت او مالدارۍ آمريت په کال کې د مصنوعي القاح د تطبيق ۱۷۰۰ کېسونه درلودل.

**کليدي کلمې**: شيدې، غواګانې، مالداران، مصنوعي القاح، وضعيت

**خلص سپارښتنې**

1. دولت ته لازمه ده، چې د خپل هيواد په داخل کې د مصنوعي القاح اساسي مرکزونه جوړ کړي ترڅو د حيواناتو نسلونه اصلاح او توليدات لوړ شي.

2. د نسلي غواياتو معياري فارمونه بايد جوړ شي سيمين ورڅخه راټول او پروسيس شي ترڅو د خارجي سټراګانو د واردولو څخه مخنيوی شوی وي.

3. د کرنې او مالدارۍ رياست کارکوونکو ته لازمه ده ترڅو د مصنوعي القاح په هکله د عامه پوهاوي پروګرامونه جوړ کړي ترڅو مالداران د مصنوعي القاح په ګټو پوه شي او هم د مصنوعي القاح تطبيق ته زړه ښه کړي.

4. د مالدارانو څخه هيله کيږي ترڅو د استرس دقيق وخت وپېژني ترڅو مصنوعي القاح ورته په ټاکلي وخت د مصنوعي القاح د ټيکنېشن لخوا تطبيق او د حيواناتو د حاملګۍ څخه ډاډ ترلاسه شي.

5. دولت ته لازمه ده ترڅو خارجي سټراګانې، چې زموږ هيواد ته وارديږي د سيمينيو د انالیز لپاره يو معياري لابراتوار جوړ کړي ترڅو د خرابو او بې کيفيته سټراګانو د استعمال څخه مخنيوی شوی وي.

6. د مالدارانو څخه هيله کيږي ترڅو خپلو حيواناتو ته مصنوعي القاح تطبيق کړي ترڅو د حيواناتو نسل اصلاح او توليدات لوړ شي.

# څلورم فصل

## د کرنیزو محصولاتو اقتصادي برخه

### د کرنیزو محصولاتو پر تولید باندې د شنو خونو اقتصادي اغېزې

څېړونکی: پوهندوی سورگل اعظیمی

د څېړونکي ایمېل ادرس: Surgul.azimi@gmail.com

**لنډیز**

شنې خونې د سبزیجاتو او گلانو په تولید کښې خورا مهمه اغېزه لري. د آزادې ساحې په پرتله د شنو خونو حاصلات کولای سي چې تر شپږ میاشتو پوري ادامه وکړي. په آزاده ساحه کښې کرنیز محصولات ممکن د مختلفو ستونزو سره مخ شي لکه آفاتو او ناروغیو ښکار کېدل چې په دې توگه د کرنیزو محصولاتو زیاته برخه ضایع کېږي او د کیفیت له لحاظه زیانمن کېږي. مگر په شنو خونو کښې کرنیز محصولات ددې ډول ستونزو څخه په امان وي. د شنو خونو ابتدایي لگښت شاوخوا ۸۰۰۰۰ افغانی کېږي چې په همدې اساس اکثریت کروندگر نه سي کولای چې دغه لگښتونه ورکړي او اکثریت کروندگر لا تر اوسه د شنو خونو د کښت کولو تخنیکونو سره بلد هم نه دي. د افغانستان په هغه سیمو کښې چې کروندگر د شنو خونو د تخنیکونو سره بلدتیا لري ښه عواید ترلاسه کوي. په افغانستان کښې شنې خونې د اقتصاد له لحاظه ډیر اهمیت لري او د کارموندنې په برخه کښې هم زمینه مساعده کوي. په یخ موسم کښې زیات تعداد سبزیجات وده او نمونه کوي څکه چې چاپیریالي شرایط ورته مساعد نه وي، مگر د شنو خونو په واسطه کولاي سو، چې په دوامداره توگه سبزیجات کښت کړو او بازار ته یې عرضه کړو. په دې څېړنه کښې د دوه ډوله معلوماتو څخه استفاده سوې ده. لومړني ارقام چې ۵۰پوښتنې د یو پوښتنلیک په اساس ترتیب سوې وې، په ارغنداب او ډنډ ولسوالیو کښې د شنو خونو لرونکو څخه راټول سوي دي. په دې علمي څېړنه کښې وموندل سول چې د شنو خونو د حاصلاتو کچه د آزادې ساحې په پرتله زیاته ده او په شنو خونو کښې د کرنیزو محصولاتو غذایي ارزښت او کیفیت زیات وي. همدارنگه په دې علمي څېړنه کښې وموندل سول چې ۷۲ سلنه جواب ویونکو ویلي دي چې شنې خونې د کروندگرو پر عایداتو ډیره زیاته

اغیزه لري او هغه کروندګر چې د شنو خونو څخه د کرنیزو محصولاتو په تولید کښې استفاده کوي ممکن ډیر زیات عواید ترلاسه کړي. د څېړنې د پایلي په اساس په هیواد کښې شنو خونو ته زیاته اړتیا ده ترڅو کروندګر وکولای سي د کال په مختلفو فصلونو کښې ډول ډول کرنیز محصولات کښت کړي او د هیواد د ملي اقتصاد ملاتړ وکړي. د شنې خونې د تودوخې د لوړې او ټیټې درجې نظارت وسي. که د تودوخې درجه له ټاکلي حده واوړي (د سانتي ګرېډ ۲۷ درجې یا فارنهایت ۸۱ درجې سي) د نباتاتو د خرابیدلو لامل کېدای سي. په لمریزو ورځو کښې د شنو خونو دروازې او کړکیو خلاصول، که تودوخه لوړه وي د شپې له خوا هم کړکۍ خلاصې پرېږدي.

**کلیدي کلمې:** اقتصاد، تولید، شنې خونط، کرنیز محصولات

**خلص سپارښتنې**

1. د شنې خونې د تودوخې د لوړې او ټیټې درجې نظارت وسي. که د تودوخې درجه له ټاکلي حده واوړي (د سانتي ګرېډ ۲۷ درجې یا فارنهایت ۸۱ درجې سي) د نباتاتو د خرابیدلو لامل کېدای سي.
2. په لمریزو ورځو کښې د شنو خونو دروازې او کړکېو خلاصول، که تودوخه لوړه وي د شپې له خوا هم کړکۍ خلاصې پرېږدئ.
3. د امکان ترحده د ګرمۍ په مهال د تهویې لپاره په موقتي توګه د شنو خونو څخه پردې لیرې سي ښه به وي.
4. د شنو خونو په چت کښې په اتوماتیک ډول د تهویې لپاره کړکۍ نصب کړل سي، ډاډ تر لاسه شي چې کله مسؤل موجود شخص نه وي، کړکۍ په اتوماتیک شکل خلاصیږي.
5. په بدلیدونکې هوا کښې هواکشونه او دروازې باید نیمه خلاصې پریښودل سي ترڅو د ناڅاپي تودوخې د لوړیدلو مخنیوی وسي.
6. دولت باید هڅه وکړي چې د هیواد په داخل کښې شنې خونې ترویج کړي، ترڅو د کرنیزو محصولاتو د تولید کچه ورسره زیاته سي او د هغه سبزیجاتو مخنیوي وسي چې د نورو هیوادونو څخه زموږ هیواد ته واردېږي.

# په کندهار کې د رومي بادنجانو بازارموندنه

څېړونکی: پوهنیار سردار محمد هاشمي

د څېړونکي ایمېل ادرس: Sardar31hashmi@gmail.com

رومي بادنجان (*Solanum lycopersicum*) د ټولو بنوالي توکو ۱٦ سلنه جوړوي او د سابه جاتو تولید په ځانګړي ډول د رومي بادنجانو تولید د کروندګرو په عاید باندې مثبته اغېزه لري او په زیاته اندازه د بې وزلۍ په کمولو کې ونډه لري لاکن کروندګر د بازارموندنې اغېزه لرونکي عواملو او د توزیع چېنلونو د توپیري ارزښت ته یې پاملرنه نه ده سوې. د همدې څېړنې تمرکز په کندهار کې د رومي بادنجانو پر بازارموندنه وو، چې فرعي موخې ئې د رومي بادنجانو پر بازارموندنه تر ټولو زيات اغېزه لرونکي عوامل مشخص کول، د بازارموندنې توپيري ارزښت تحليلول، د کروندګرو ټولنيز اقتصادي ځانګړتياوې تشريح کول، د بازارموندنې چېنلونه معلومول او د کروندګرو د بازارموندنې عمده ستونزې په ګوته کول وو. څېړنې د مقطعي ډيزاين ترتيب درلود، چې د يو منظم او ترلي پوښتنليک پر بنسټ د رومي بادنجانو د کروندګر او منځګړو څخه لومړني ارقام راټول سول. تشريحې تحليل، د عواملو تحليل او ميلان تحليل څخه استفاده وسول. تشريحي تحليل دا وښودل، چې په کندهار کې د رومي بادنجانو بازارموندنه د منځنۍ عمر کروندګرو په واسطه سره مخته وړل کېږي او اکثره کروندګر له تعليم څخه بې برخې ول له بله اړخه د بازارموندنې کافي تجربه ئې درلودل. کروندګرو په بېلا بیلو اندازو رومي بادنجان و بازار ته عرضه کول چې کلنی اوسط ئې ۲۵۹۸۷ کيلو ګرامه ول او کلنی عايد ئې ۴۴۹۵۰ افغانۍ وو. کروندګرو د پنځو چېنلونو له لارې خپل رومي بادنجان عرضه کول چې تر ټولو عمده ئې د عمده پلورونکو چېنل وو. همدارنګه د بازارموندنې ناخالص توپيري ارزښت د پرچون پلورونکو چېنل زيات وو. د کروندګرو د بازارموندنې عمده ستونزې په ترتيب سره د سړو خونو نه شتون، د بيو بدلون، د پروسيس د اسانتياو نه شتون، لږ تقاضا، د وړلو راوړلو لوړ لګښتونه، و مارکېټ ته نه لاسرسی، د دولت نه همکاري او د مارکېټ معلوماتو ته نه لاسرسي څخه عبارت وو. د عواملو په تحليل کې شپږ عوامل را برسېره سول، چې عبارت دي له درجه بندي، سړې خونې، بسته بندي، چېن، د مارکېټ منځګړي او د مارکېټ معلوماتو ته لاسرسی، د دې عواملو مجموعي انحراف 80.195 وو. د څوګونې ميلان تحليل دا وښوده، چې د رومي بادنجانو بازارموندنه د درجه بندۍ، چېن، سړې خونې، بسته بندۍ او د بازارموندنې

تجربه په ترتیب سره ۱٪، ۱٪ ،۱٪ ،۵٪ او ۵٪ په احصائیوي لحاظ د پام وړ وه. لنډه دا چې په کندهار کې د رومي بادنجانو بازار موندنه زیاته د درجه بندۍ، چڼ او سړو خونو پواسطه اغېزمنه کېدل او کروندگر د پنځو چېنلونو له لارې رومي بادنجان و مارکېټ ته عرضه کول او تر ټولو د پرچون پلورونکي او عمده پلورونکې چېنلونو توپیري ارزښت گټور وو. د دې څېړنې د موندنو څخه دا سپارښتنې کېږي چې په کندهار کې د رومي بادنجانو کروندگرو ته باید روزنیز تربیتي زده کړې ورکړل سي او هغه عواملو ته زیاته پاملرنه وسي چې لوړ یاد سول.

**بنسټیزې کلمې:** کندهار، رومي بادنجان، د بازارموندنې چېنلونه، توپیري ارزښت، د عواملو تحلیل، د میلان تحلیل

**خلص سپارښتنې**

څرنگه چې دا څېړنه په کندهار کې ترسره سوې ده او یوازې د کندهار ولایت د کروندگرو لپاره لاندې ځانگړې سپارښتنې د همدې څېړنې د موندنو پر بنسټ کېږي.

1. د افغانستان د کرهنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت څخه دا غوښتنه لرم، چې د کندهار د رومي بادنجانو کروندکرو سره د سړو خونو او نورو د ارزښت علاوه کولو اسانتیاوې اماده کړي.
2. د گران هیواد افغانستان د تجارانو څخه مې غوښتنه دا ده، چې د کندهار ولایت د رومي بادنجانو لپاره په پروسیس کمپنیانو کې پانگونه وکړي.
3. د مسلک له مینوالو څخه دا غوښتنه لرم، چې د رومي بادنجانو د بازارموندنې په اړه نوري څېړنې هم ترسره کړي.
4. د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون څخه دا سپارښتنه لرم، چې د کندهار ولایت د کرهنې، اوبو لگولو او مالدارۍ ریاست او غیر دولتي موسساتو سره په گډه و کروندگرو ته د روزنیزو تربیتي تعلیماتو فرصتونه برابر کړي.
5. د کندهار ولایت د کروندگرو څخه دا غوښته لرم، چې خپل رومي بادنجان د پرچون پلورونکو او عمده پلورونکو چېنلونو له لارې وپلوري، ځکه چې د بازارموندنې ناخالص توپیري ارزښت ئې نسبت کوچني عمده پلورونکو ته زیات دی.

# په کندهار ولایت کې د انځرو د درجه بندۍ سوداګریزې اغیزې

څېړونکی: عبدالرازق ریحان

د څېړونکي ایمېل ادرس: Raziqrehan56@gmail.com

**لنډیز**

یاده څېړنه په ۱۴۰۱ ل. کال د حمل د میاشتې پر ۱۵ نېټه دافغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون لخوا د کندهار ولایت صنعتي پارک په ساحه کې د "په کندهار ولایت کې د انځرو د درجه بندۍ سوداګریزې اغیزې" تر سرلیک لاندې شروع او د۱۴۰۲ ل. کال د قوس پر ۵ نېټه سرته ورسېده. څېړنه د (Cross-Sectional) په ډیزاین کښې ترتیب سوې وه، چې ۱۰۰ تنو تجارانو او کروندګرو ته سوالونه ویشل سوې وه. چې وروسته د معلومات راټولولو څخه د excel او SPSS پروګرامونو په واسطه معلومات تحلیل کړل سول، په همدې څېړنه کښې و هدفونو ته د رسېدو په موخه پوښتنې مطرح سوې دي، ترڅو د انځرو او د هغه د درجه بندۍ په ډولونو وپوهیږو، د افغانستان داخلي مارکېټونو لپاره کوم ډول د انځرو درجه بندي وسي، د انځرو د صادراتو لپاره کوم ډول درجه بندي صورت نیسي، د کندهار په انځرو کې ددرجه بندۍ لپاره د کوم ډول تکنالوژي څخه ګټه اخیستل کېږي. د نړۍ او انساني جوړښت په رامنځ ته کېدو سره انسانان په دي هڅه کې سول چې تر څو خپل د ژوند د بقا لپاره خپلې اړتیاوي پوره کړي، که چېري موږ خپل چاپېریال ته پاملرنه وکړو نو وبه وینو چې په یاد چاپېریال او یا هم ټولنه کې مختلف اشخاص په مختلفو کارونو بوخت دي لکه – ډاکټر درملنه کوي ، کروندګر په مځکو کې بوخت دي او کرنه مخته وړي، نو انسان چې په هر کار بوخت وي ، خپلې اړتیاوي پوره کوي نو دغه کړنو ته موږ تجارت ویلاي سو. دا چې د کرنیزو محصولاتو پروسیس د زراعتي او حیواني محصولاتو لپاره یوه مهمه عملیه ده نو ضروري ده ترڅو مځکې لدې چې محصولات ضایع شي پروسیس کړو او همدارنګه وکولای شو د پروسیس د عملیې په واسطه له یوه محصول څخه څو ګوني محصولات په لوړ کیفیت سره لاسته راوړو نو دې نتیجې ته رسیږو چې حیواني او زراعتي محصولات مځکې لدې چې و مصرف کونکو ته ورسیږي ضروري ده تر څو هغوی پروسس او هم یې کیفیت له صحي لحاظه تأمین کړل شي. که چېري موږ د افغانستان اقتصاد ته متوجه سو نو وبه وینو چې د استخدام ، داخلي ناخالصو تولیداتو او داسې نورو اقتصادي فکتورونو په جوړښت کې د انځرو

کاروبار د اهمیت وړ بلل کېږي همدارنګه په افغانستان کې کندهار ولایت یو له لویو او تجارتي ولایتونو څخه دی چې د افغانستان اکثره تجارتونه د دغه ولایت څخه پیل سوي دي او د افغانستان د انځرو د تجارت زیاته برخه هم دغه ولایت جوړوي. لکه څرنګه چې زموږ موضوع "په کندهار ولایت کې د انځرو د درجه بندي سوداګریزې اغېزې" د همدې څېړنې د ترسره کولو لپاره موږ په کندهار ولایت کې د انځرو کاروبارونو ته توجه کړې ده، چې په کندهار کې کوم ډول د انځرو تجارتونه وجود لري. د یادې څېړنې په ترسره کولو سره به موږ دا معلومه کړله چې په کندهار کې دغه شرکتونه کوم شکلونه لري او همدارنګه د دغه تجارتونو رول په اقتصاد باندې څه دی او دغه کاروبارونه د اقتصادي ودې په رامنځ ته کېدو کې څه ونډه لري. د دې څېړنې په تر سره کولو سره مو داسې نتیجه کې تر لاسه کړه چې په کندهار ولایت کې ډول ډول تجارتي د انځرو کمپنۍ شتون لري چې د هغه جملې څخه زیاتو یې خپل تولیدات خارج مارکېټونو ته استول، په دغه ولایت کې په تیرو ٦ کلنو کې بیکاري زیاته سوې ده ځکه چې په دغه ولایت کې د یوې خوا دولت د بې کارۍ په لمنځه وړلو کې کوم اقدام نه دی کړی او د بلې خوا زیات شمېر تجارتي شرکتونه شتون نه لري دا ځکه چې زیات شمېر تجاران خپله سرمایه خارجي هیوادونو ته انتقالوي ، د دغه سرمایې د انتقال اصلي لامل د زراعتي محصولاتو لپاره دې په زړه پورې میکانیزم نشتون دی، له بلې خوا تجاران د خپل تجارت لپاره لازمې کړنې نه ترسره کوي او د پروسس یا هم درجه بندۍ لپاره خاص میکانیزم نه برابروي. د استخدام اړوند مو د څېړنې په ترسره کولو سره داسې نتیجه تر لاسه کړه چې په هره اندازه چې تجارتي شرکتونه وسعت پیدا کوي او پراخیږي او همدارنګه نوي تجارتي شرکتونه رامنځ ته کیږي په هم هغه اندازه به استخدام زیاتیږي او بې کاري به کمیږي. نو په کندهار ولایت کې تجارتي شرکتونه د تجارانو او دولت لخوا پرانیستل سي او هم موجوده تجارتي شرکتونه حمایه سي تر څو هغوي خپل فعالیتونه پراخ کړي او بیکاره کاري قوه په کار وګماري.

**کلیدي کلمې**: تجارتي اغېزې، درجه بندي ، قیمت ایښودنه

## خلص سپارښتنې

د انځرو د مختلفو ورايټو توليدات او د هغو لپاره مناسبه درجه بندي او بازارموندنه به د محصولاتو د زياتوالي او په ملي سطحه د زياتو تجارتي مثبتو اغيزو سبب گرځول سوې وي، چې له همدې وجې څخه د څېړنې په پايله کې لاندې سپارښتنې لرم.

1. دولت ته پيشنهاد لرم چې د انځرو صادرونکو تجارانو او پروسس کونکو لپاره تجارتي آسانتياوې برابرې کړي، چې له هغو څخه د يو ښه بانکېنگ سيستم د تجارانو د تجارت پر ثبات باندې تاثير لري د لويو لارو جوړول به د انځرو پر تجارت مثبت گام وي .

2. دولت ته په کار ده چې تجارانو ته داسې ټرينينگونه برابر کړي تر څو پروسس کونکي پوه سي چې پر انځرو نه يواځې د پيکېنگ، درجه بندی او ترانسپورټ پروسې اجرا کړي بلکي د انځرو شکل ته داسې تغير ورکړي چې د هيواد په داخل کې د خوراکي موادو په ډول وکارول سي.

3. د دولت څخه غوښتنه کوم چې د تجارانو بزگرانو او بزازانو ترمنځ راکړه ورکړه د بانک له لارې نغدي کړي، دا ځکه چې اوس د انځرو راکړه ورکړه زياتره د پور له لارې صورت نيسي چې دا لويه ستونزه ده د تجارانو، بزازانو او بزگرانو ترمنځ.

4. دولت ته سپارښتنه کوم چې د انځرو د توليد او پروسس لپاره ځانگړې مجهزې ټکنالوژي او مجهز صنعتي ښارگوټي جوړ کړي ترڅو د انځرو پروسس او توليد پراختيا ومومي.

5. تجارانو ته سپارښتنه کېږي تر څو د انځرو راکړه ورکړه په افغانی سره ترسره کړی بايد د بل هيواد د کرنسي۔د استعمال څخه ډډه وکړي تر څو د هيواد د اقتصاد د پياوړتيا ذريعه وگرځيږي.

6. دولت ته سپارښتنه کوم چې و تجارانو ته د مارکېټينگ يا بازارموندنې اړند مجهز سيستم برابر کړي.

7. دولت ته پيشنهاد لرم چې د دهقانانو د ښه حاصلاتو لپاره د سټوريج يا ذخيرې زمينه برابره کړي.

8. دولت ته په کار ده چې د انځرو د تولید او پروسس په برخه کې سرمایه گذاري وکړي، د تولیدونکو سره بیلا عوضه مرستې وکړي او همدارنگه باید د کشمشو تولیدونکو ته په مالیاتو کې تخفیف ورکړل سي، تر څو هغوی وتوانیږي چې خپل تولیدات د بهرنیو تولیداتو په مقابل کې و پلوري.

9. ددرجه بندۍ او بسته بندۍ یو ملي با صلاحیته بورډ باید جوړ شي تر څو په مختلفو او مناسبو وختونو کې ناستې ولري چې د مختلفو محصولاتو د کنترول تر څنگ نوښتونه رامنځ ته کړي.

10. داخلي محصولاتو ته باید په داخلي قرادادونو کې توجه وشي او په بازار کې باید د خپلو تولیداتو څخه گټه پورته شي.

11. دولت باید په مارکېټ کې مداخله وکړي او داخلي تجارانو سره د بازار په پیدا کولو کې مرسته وکړي او په بازار کې د بې کیفیته انځرو پلورل منع شي.

12. په اقتصادي برخه کې باید تجاران د مسلکي اشخاصو سره په رابطه کې شي تر څو سالمې مشورې ورکړي او مناسبه درجه بندي او بسته بندي مارکېټ ته وړاندې کړي، کاریگران باید سم وروزل شي.

13. تجاران باید د ټولو ورداتي توکو تر څنگ باکیفیته مواد د بسته بندۍ او درجه بندۍ لپاره هیواد ته وارد کړي.

14. دمحصولاتو د درجه بندۍ او بسته بندۍ صنعت ته داخلي پانگوال وهڅول شي تر څو د هیواد په داخل کې پانگونه تر سره کړي.

15. په ټوله کې د دولت مربوط ټول اورگانونه باید یاد صنعت ته د پراختیا په موخه جدي توجه او نوښت ورکړي.

# د بادامو کوچنيو کروندګرو باندې د عضوي سرې په منلو کې د عضوي سرې اړوند د پوهې، چلند او کارولو ترمنځ اړيکه

 څېړونکي: عبدلهادی واصل، جاسمين عارف شاه، نوربهای محمد هارس

د څېړونکي اېمېل ادرس: Hadiwasil2020@gmail.com

**لنډيز**

بادام په افغانستان کې يوه مهمه وچه مېوه ده او په درجه بندۍ کې له مميزو او انګورو وروسته دوهم ځای لري. د دې وچې مېوې په توليد کې کمښــت د ټکنالوژۍ د ټيټې کچې له امله دی، او همدارنګه په ارزګان ولايت کې د غيرعضــوي سرې د کاروني خورا ډير په نامناســب وخت کې کارول يوه بله لويه ســتونزه ده. څرنګه چې عضـوي سره د کيفيت لرونکي بادامو د توليد لپاره حياتي ده، نو پدې څېړنه کې مو د عضــوي سرې د منلو او توافق پورې اړوند د پوهې، چلند او عمل ترمنځ اړيکه وڅېړله. دا څېړنه د ټکنالوژۍ منلو ماډل ( Technology Acceptance Model) او د پلان شــوي چلـنـد تـيـوري (Theory of Planned Behaviour) څخه په اســتفادې تر سره شــوې، ترڅو د عضــوي سرې پلې کولو تحقيق وکړي. د ترينکوټ ولسوالۍ د ارزګان ولايت مرکز په قصدي توګه و ټاکل شوه، ځکه چې دا د اروزګان ولايت د بادامو تر ټولو لويه توليدونکې ولســوالۍ ده. پدې څېړنه د څو نمونه يي طريقې څخه اســتفاده وشــوه او د ۱۱٦ بادامو کوچنيو کروندګرو نمونه د دې څېړنې لپاره و کارول سوه. پايلو و ښودل چې د عضـوي سرې په منلو کې د عضـوي سرې کارول او پوهې مثبت او د پام وړ اغيزه ښــيي. د عضــوي سرې د غوره کولو او منلو لپاره بايد پوهه او عملي کارونه د بادامو د کوچنيو کروندګرو ترمنځ وکارول شي. دا څېړنه د عملي روزنې طريقو څخه په اســتفادې او په ټکنالوژۍ کې برخه اخيســتنه کې مرســته کوي، ځکه چې روزنه د عضــوي سرې د منلو پــه اړه د معلومــاتو چمتو کولو کې ترټولو مهم عــامــل دي او کولای شي د کروندګرو هڅولو لپاره د عضوي سرې غوره کولو لپاره لوړ چانس ولري

**خلص سپارښتنې**

دا څېړنـه دا وړانـديز کوي چې د ترويج کـارکوونکي او اړونـده ادارې د بـادامو کوچنيو کروندګرو سره د دوامداره توليد لپاره د بادامو د آفتونو او ناروغيو مخنيوي لپاره د اغيزمنو او دوامـدارو کړنو پـه اړه د معلومـاتو شريکولو کې مرســتـه وکړي. د څېړنې مونـدنې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، ښــوونکو، او پاليسي- جوړوونکو ته ارزښــتناکه ليد او مداخلو لاره هواروي چې د عضــوي سرې منلو او ټکنالوژيو په وده کې په پراخه پيمانه برخه واخلئ. په هرصـــورت، بايد يادونه وشي چې ډېر اړخونه شـــتون لري چې په راتلونکي کې به نورو څېړنو ته اړتيا ولري. لومړی، دا ډول مطالعات بايد د افغانســـتان نورو ولايتونو ته وغځول شي ترڅو د عضـــوي سرې د کارولو په اړه د پوهې، چلند او عمل کچه معلومه کړي. دوهم، د عضوي سرو عملي کاروني اړوند څېړنې ته اړتيا ده، ځکه چې دا څېړنه يوازې د عضوي سرې د منلو په اړه د چلند اراده پوښـي. علمي سـازمانونه او څېړونکي بايد د دې فرصـت څخه کار واخلي ترڅو د کوچنيو کروندګرو چلند داسې وټاکي چې عضوي سرې اختيار کړي.